# د افغانستان شمال-جنوب د ترانزیټ مسیر؛ ننګونې او فرصتونه

**۱نجیب الله امانزی، ۲پوهنمل سپین ګل مایار**

۱. د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو ډیپارټمنټ، د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی استاد، کاروان پوهنتون، کابل، افغانستان
۲. مالي او بانکي چارو ډیپارټمنټ، اقتصاد پوهنځی، البیروني پوهنتون استاد، کاپیسا، افغانستان

ایمیل: takall.ps09@gmail.com

## لنډيز

افغانستان چې د آسیا د زړه په توګه پېژندل کیږي، د مرکزي آسیا، د آسیا د جنوب، د لوی منځني ختیځ او د آسیا د ختیځ (چین) د سیستمونو تر منځ یې یو پېچلی متقابل تړاو رامنځته کړی او د اقتصادي-ترانزیټي څلورلاري حیثیت یې ترلاسه کړی دی او د انرژۍ د پلور نړیوالو بازارونو ته د مرکزي آسیا ارزانه مسیر ګڼل کیږي، په همدې دلیل د شمال-جنوب د ترانزیټ طرح رامنځته شوې او افغانستان د دې طرحې په مسیر کې واقع شوی دی. دا څېړنه د هغه ننګونو او فرصتونو د بررسی او موندنې په موخه ترسره شوې ده چې د نوموړې طرحې په رامنځ ته کېدلو او د یادې طرحې په مسیر کې د افغانستان په واقع کېدلو سره، دې هېواد ته کومې ننګونې او کوم فرصتونه رامنځ ته شوي دي. دا څېړنه د توصیفي-تحلیلي تګلارې پر بنسټ ترسره شوې، د څېړنې پایلې او موندنې دا څرګندوي چې د نوموړې طرحې په رامنځته کېدلو سره د سیمې او نړۍ لوی ځواکونه هڅه کوي چې د مرکزي آسیا د انرژۍ سرچینو ته د لاسرسي په پار د افغانستان له جیوپولیټیک او جیواکانومیک موقعیت څخه په ګټې پورته کولو سره؛ نوموړو سرچینو ته لاسرسی و مومي او د سیالو لوبغاړو لاس‌رسي محدود او تر فشار لاندې راولي، د یادو سیالیو په لړ افغانستان له یوې خوا له سیاسي-امنیتي بې ثباتۍ سره مخ شوی او له بلې خوا همدې طرحې د هېواد لپاره اقتصادي او سیاسي-امنیتي فرصتونه هم رامنځ ته کړي دي.

**کلیدي ټکي:** افغانستان؛ ترانزیټ؛ جیواکانومي؛ جیوپولیټیک؛ جیوستراتیژي؛ ننګونې او فرصتونه.

# Afghanistan on the North-South transit Route, Challenges and Opportunities

Najibullah Amanzai1*, Spingul Mayar 2

1 .Political Science & International Relations Department, Law & Political Science Faculty, Karwan University, Kabul, Afghanistan

2. Finance Department, Economic Faculty, Alberoni University, Kapisa, Afghanistan.

Email: takall.ps09@gmail.com

## Abstract

Afghanistan, which is the Heart of Asia, has achieved a complex interdependence and status as an economic-transit crossroads between four regional systems (Central Asia, South Asia, the Greater Middle East, and East Asia “China”), the countries of Central Asia are landlocked, lack access to free water and international markets for energy sales, which is why the North-South Transit Initiative has been created and Afghanistan is located on the route of this initiative. Thus, this study was conducted to probe and identify the problems and opportunities that the North – with the establishment of the Southern Transit Project and the location of Afghanistan along the route of the project, what problems and opportunities have arisen for this country. This study was conducted based on a descriptive-analytical approach. The results and findings of the study confirm the hypothesis that with the emergence of this plan, major regional and global powers are trying to exploit Afghanistan's unique and sensitive geopolitical, geoeconomical and geostratigical location in order to gain access to the energy resources of Central Asia, by taking advantage of its geoeconomic and geostrategic location, it gains access to these resources and limits and pressures the access, presence, and influence of rival players in this region. As a result of this competition, Afghanistan has faced political and security instability on the one hand and on the other hand, this plan has also created opportunities for the country's political-security stability and economic growth.

**Keywords:** Afghanistan|, geoeconomy, geopolitics, geostrategy, opportunities, Challenges and transit.

## ۱ـ سریزه

افغانستان یو بې ساری او بې بدیله جیوپولیټیک، جیواکانومیک او جیوستراتیژیک موقعیت لري چې د آسیا د زړه په توګه پیژندل کیږي او څلور سیمییز سیتمونه (لوی منځنی ختیځ، مرکزي آسیا، د آسیا ختیځ او د آسیا جنوب) یې یو له بل سره تړلي دي چې خپل ارزښت یې د تاریخ په بېلابېلو پړاوونو کې له همدې بې ساري او بې بدیله موقعیت څخه ترلاسه کړی دی او د تاریخ په بېلابېلو پړاوونو کې د بېلابېلو جیو پولیټیکي او جیوستراتیژیکي موخو په توګه د نړۍ د لویو ځواکونو د توجه په مرکز کې واقع شوی دی.

افغانستان د لارې په داسې یوه تقاطع کې واقع شوی دی چې د نړۍ زړه، د هند له شبه قارې سره نښلوي، دا هیواد خپل اهمیت له موقعیت څخه ترلاسه کوي، داسې موقعیت چې د وچې او سمندر سره مرز لري او په تاریخ کې د نړۍ د لویو ځواکونو ترمنځ د ټکر نقطه وه، مغول او مقدوني سکندر لدې لارې تېر شوي او په نولسمه میلادي پېړۍ کې د روسانو او انګلیسانو ترمنځ ستره لوبه همدلته ترسره شوې ده، په شلمه میلادي پېړۍ کې هم افغانستان د دوه لویو نړیوالو ځواکونو ترمنځ سرحد ؤ، د منځنۍ آسیا د جمهوریتونو له آزادۍ او خپلواکۍ سره سم چې دا ټول هېوادونه له آزادو اوبو څخه لیرې پراته دي، افغانستان د سیمې، ستراتیژیک محور ګرځېدلی دی.

دا چې افغانستان د انرژۍ د بډایه سیمو سره تر څنګ پروت دی او له سړې جګړې څخه وروسته د لویو ځواکونو ترمنځ اقتصادي سیالۍ زور واخیست، د سپټمبر د یولسمې نېټې له پېښې سره سم، متحده ایالاتو او ناټو په افغانستان یرغل وکړ او دا هېواد یې اشغال کړ، تر څو د نورو موخو ترڅنګ په لوی منځني ختیځ کې د چین، ایران او روسیې د پرمختګ او نفوذ مخنیوی وکړي او په مرکزي آسیا، د آسیا جنوب او د آسیا په ختیځ کې انرژۍ او د هغه په پیر او پلور کې واک او نفوذ ترلاسه او اقتصادي دهلیزونو جوړ کړي، نو په دې توګه د امریکا متحده ایالاتو هڅه کوله ترڅو د افغانستان له جیوپولیټیکي-جیواکانومیکي موقعیت څخه په ګټه پورته کولو سره چې د نوموړو سیمو د فتحې او نفوذ د کلي په توګه پېژندل کیږي، د چین، ایران او روسیې له پرمختګ څخه مخنیوی وکړي او انرژۍ ته د لاسرسي په موخه واک او نفوذ تر لاسه کړي او له خپلو ګټو سره سم اقتصادي دهلیزونه جوړ کړي، چې په پایله کې له ماتې سره مخ شول او اشغال ختم شو، ولې اوس هم هڅه کوي؛ افغانستان د همدې جیوپولیټیکي-جیواکانومیکی موقعیت د ارزښت له مخې تر خپل کنترول او نفوذ لاندې ولري، ترڅو لدې لارې خپلو موخو ته ورسیږي.

افغانستان د خپل بې ساري او بې بدیله جیوپولیټیکي-جیواکانومیکي موقعیت، طبیعي زیرمو او شتمنیو له مخې د اقتصادي څلورلاري او د انرژۍ په بازار د بدلیدلو ظرفیت او وړتیا لري او همدارنګه بې ساري فلزي، منرالي او هایدروکاربني معدنونه لري، چې لدې کبله د تاریخ په بېلابېلو پړاوونو کې د سـیمې او نړۍ د لویو ځواکونو لخوا د یرغل او لاسـوهنې موخه ګرځېدلی او د هېواد د سـیاسي-امنیتي ثبات، اقتصـادي ودې او پراختیا په وړاندې یې بې شـمېره ګواښـونه او ننګونې رامنځ ته کړي او له بېلابېلو بحرانونو سره یې لاس او ګریوان کړی دی، پدې پړاوونو کې افغانسـتان د کمزورو او لاسـپوڅو سیاسي نظامونو له کبله و نشـو کولای چې د خپل بې سـاري او بې بدیله جیوپولیټیک، جیواکانومیک او جیوسـتراتیژیک موقعیت په وړاندې ننګونې او ګواښـونه په فرصـتونو بدل او هېواد د سـیاسي ثبات، پرمختګ او رفاه په لور سوق کړي.

پدې توګه د افغانستان د جیوپلیټیک او جیو اکانومیک موقعیت، د انرژۍ په بازار د بدلېدلو د ظرفیت او په همدې دلیل په افغانستان کې د سیمې او نړۍ د لویو ځواکونو د سیالۍ او رقابت په اړه یو لړ څېړونکو لکه: پیشګاهي‌فرد او رحیمي (۱۳۸۷). په «جایګاه افغانستان در ژئو استراتیژي نظام نوین جهاني» نومې مقاله، حمیدي نیا او صـالحي دولت آباد (۱۳۹۴). په «انرژي عرصـه بازی بزرګ جدید در آسـیای مرکزی: مطالعه موردی روسـیه، آمریکا و چین» نومې مقاله، ودادي کلانتر، سـیف الدین او حاجي نژاد (۱۳۹۸). په «بررسي رفتار پاکسـتان و هند در قبال دو خط لوله تاپی و صـلح با رویکرد نظریه ای بازی ها» نومې مقاله، بابیی لاشکی او عزتی (۱۳۹۳). په «تاپی (خط لوله ګاز ترکمنستان، افغانستان، پاکستان و هند؛ زمینه های ایجاد و موانع پیش رو» نومې مقاله او امیراحمدیان (۱۳۸۷). په «حمل ونقل و ترانزیت در آسیای مرکزي» نومې مقاله کې څېړنې ترسره کړې دي چې په ټولیزه توګه پورته ذکر شوي موضـوعات پکې څېړل شـوی او د شـمال-جنوب د ترانزیت د طرحې له کبله افغانسـتان ته ورپېښې سیاسي-امنیتي او اقتصادي ننګونې او فرصتونه یې نه دي څېړلي، نو پدې توګه د دې څېړنې موخې په علمي توګه د هغه موضـوعاتو او لاملونو را برسـیره کول او پېژندل دي چې له امله یې هېواد په (۱۹۹۰) میلادي لسـیزه کې د شـمال-جنوب د ترانزیټ د طرحې په رامنځ ته کیدلو سره، د هیواد جیوپولیټیکي-جیواکانومیکي او سیاسي - امنیتي وضعیت ته په کتلو سره، له ننګونو سره لاس او ګرېوال شوی دی، یا په بل عبارت کومې ننګونې او ګواښـونه چې د اقتصـادي او سـیاسي- امنیتي ابعادو له اړخه د نوموړې طرحې په رامنځ ته کیدلو سره د هیواد په وړاندې را ټوکېدلې دي، د بنسټیزه موخې په توګه څېړل شوې دي. همدارنګه د شمال-جنوب د ترانزېټ د طرحې له امله هېواد ته د ورپېښو ننګونو تر څنګ د یادې طرحې د هغه فرصـتونو مطالعه او بررسي چې د اقتصـادی او سـیاسي-امنیتي ابعادو له اړخه د هېواد د اقتصـادي ودې، پرمختګ او رفاه په لار کې رامنځ ته شـوي دي؛ په دې مقاله کې د دې څېړنې د یوې بلې بنسټیزه موخې په توګه تر بحث او څېړنې لاندې نیول شوي دي.

له دې مخې د څېړنې پوښــتنه داده چې د شــمال – جنوب د ترانزیټ د طرحې په رامنځ ته کېدلو او د یادې طرحې په مسیر کې د افغانستان په واقع کېدلو سره، دې هېواد ته کومې ننګونې او فرصتونه رامنځ ته شوي دي؟ چې پدې څېړنه کې د یادې موضوع اهمیت ته په کتلو سره د څېړنې د پوښتنې د ځواب په موخه د شـمال-جنوب د طرحې په رامنځ ته کېدلو او د دې طرحې په مسـیر کې د افغانسـتان په واقع کېدلو سره د هېواد په وړاندې یو لړ سیاسی-امنیتی او اقتصادي ننګونې، ګواښونه او فرصتونه تر بحث او څېړنې لاندې نیول شوي، ترڅو دا ستونزې او فرصتونه په علمي، دقیقه او هر اړخیزه توګه و څېړل شي؛ د ننګونو لپاره د حل لارې او د فرصتونو لپاره زمینه چمتو کړل شي.

## مفاهیم

په دې برخه کې هغه اساسي او بنسټیز مفاهیم چې پدې څېړنه کې کارول شوي دي، د لا ښه وضاحت او پوهاوي په موخه تر بحث لاندې نیول شوي دي.

### A) د جیوپولیټیک مفهوم

جیوپولیټیک په نړیوال سیاست او نړیوالو اړیکو کې ټاکونکې ونډه لري او د جیوپولیټیک اصطلاح له دوه برخو څخه جوړه شـوې؛ چې «جیو» د ځمکې په معنی او «پولیټیک» د سـیاسـت په معنی دی. د آشوري سیاسي دانشنامه؛ جیوپولیټیک د سیاسي جغرافیا او د سیاست د علم ترکیب بولي (آشوري، ۱۳۷۳: ۱۸۲). د محمود طلوعی په باور له دې اصـطلاح څخه موخه: « د یو هېواد د جغرافیایي موقعیت او تر ځمکه لاندې سرچینو اړیکه، د دې هېواد له وضعیت او سیاسي موقعیت سره ده (طلوعی، ۱۳۷۲: ۵۱۷). داکتر میرحیدر دره، د جیوپولیټیک یو نوی تعریف داسې وړاندې کوي: «جیوپولیټیک د نړیوال سـیاســت په اړه د ځواک او فکر د څښــتنانو د نظر او لیدلوري تګلاره او په ملي او ســیمییزه کچه پر سیاسي پرېکړو د دوی اغېزه ده (دره، ۱۳۷۷: ۲۲).

### B) د جغرافیایي موقعیت مفهوم

جغرافیایي موقعیت د ځمکې په ســطح د یوې نقطې د واقع کېدلو څرنګوالی ته ویل کیږي، موقعیت عمومي یا نسبي او خصوصي یا ریاضکي حالتونه لري. په جیوپولیټیک کې عمدتاً نسبي موقعیت چې په دریو (سیمییزه، لویه وچه او نړیواله) سطحو وېشل کیږي، په نظر کې نیول کیږي. د یو هېواد د ګډون کچه په نړیوالو مســائلو کې له جغرافیایي موقعیت سره تړاو لري. که چېرې یو هېواد د یو مناســب موقعیت څخه برخمن وي، کولای شي خپل ملي امنیت په غوره توګه تأمین کړي. هغه هېواد چې

ستراتیژیک موقعیت ولري هېڅ کله نشي- کولای چې له نړیوالو بدلونونو څخه خپل ځان لیرې وساتي (عزتي، ۱۳۸۲، ۱۸-۲۲). د جغرافیایي موقعیت د دولونو په اړه د سمندري (ساحلي، حاشیه‌یي یا جزیره‌یي) موقعیت، مرکزي (محوري) یا د وچې موقعیت او د ستراتیژیک موقعیت مواردو ته اشاره کولای شو.

### C) د جیواکونومي مفهوم

په نړۍ کې ځانګړې جغرافیایي نقطې شتون لري چې د یو هېواد تسلط او واک پدې نقطو باندې په ځانګړې توګه د ځواک او شتمنۍ لامل کیږي. په یوویشتمه پیړۍ کې د نظر خاوندان وایي چې جیواکونومي پر جیوپولیتیک لوړتیا او تفوق لري (عزتی، ۱۳۸۲: ۲۱۵). جیو اکانومي د جیوپولیتیک او د جیوپولیتیکي سیمو د سنتي مفهوم له بدلون سره د یو هېواد د ځواک موندنې او د اقتصادي لامل ونډه او اغېزه یې په نړیوال نظام کې را برسېره کړی ده. د جیواکانومۍ پر بنسټ ستراتیژي جوړونه د دولتونو لپاره د سیاسي وسایلو په توګه ګڼل کیږي، د جیواکانومي اصلي موخه؛ د هېوادونو کنترول او فزیکي ځواک ته لاسرسی ندی؛ بلکه د فن آورۍ او سوداګرۍ لوړتیا ته لاسرسی دی چې په پایله کې د هژموني ځواک نوی ډول د اقتصادي ځواک په چوکاټ کې، په نړیواله کچه رامنځ ته کوي (عزتي، ۱۳۸۰: ۱۰۶) او پدې بنسټ اقتصادي مسائل پدې برخه کې ډېر اهمیت ترلاسه کوي.

### D) د جیوستراتیژۍ مفهوم

جیوستراتیژي په جغرافیایي فضا کې د یو سیاسي اقدام تګلاره ده، پېروز مجتهدزاده جیوستراتیژي داسې تعریفوي: «جیو ستراتیژي د جغرافیایي، سیمیز او نړیوال چاپېریال د ستراتیژیکو عواملو د اغېزې مطالعه د حکومتونو پر سیاسي تصمیم ګیرۍ او د هېوادونو متقابلې اغېزې په سیمیزو او نړیوالو ابعادو کې او د قدرت په سیا ستونو له اغېزې څخه عبارت ده (مجتهدزاده، ۱۳۷۶: ۱۲۲). عزتی جیو ستراتیژي داسې تعریف کړې ده: «جیو ستراتیژي په حقیقت کې د یوې ستراتیژۍ او جغرافیایي چاپېریال تر منځ د اړیکو د کشف له علم څخه عبارت ده (عزتي، ۱۳۸۲: ۱۳۷). حافظ نیا جیو ستراتیژي د جیوپولیتیک او ستراتیژۍ ترمنځ د اړیکو علم ګڼي (حافظ نیا، ۱۳۸۱: ۴۹). جیوستراتیژۍ د جغرافیایي عناصرو او ستراتیژۍ تر منځ اړیکې بررسي کوي (رفیع، ۱۳۸۷: ۱۰۶).

## I. د څېړنې نظري چوکاټ

د دې څېړنې موضوع «افغانستان د شمال-جنوب د ترانزیت مسیر؛ ننګونې او فرصتونه» د متقابل تړاو او د جیوپولیتیکي نظریاتو پر بنسټ تحلیل او بررسي شوې ده، د دې نظریاتو پر بنسټ کولای شو دا مسئله په غوره توګه حل او داسې لارې چارې په ګوته کړو چې افغانستان ته لدې مسئلې څخه ورپېښې

ننګونې او ګواښـونه په فرصـتونو بدل او هېواد د سـياسي-امنيتي ثبات، ودې، پرمختګ او پراختيا په لور سوق کړو. دا نظريات د نورو نظرياتو په پرتله د افغانستان او سني او تېر وضعيت او بدلونونو ته په کتلو سره داسې مهم ټکي لري چې پر بنسټ يې د څېړنې مسئله په غوره توګه حل کېدلای شي.

## II. د متقابل تړاو نظريه

د متقابل تړاو نظريه له (۵۰) مې ميلادي لسيزې څخه تر (۹۰) مې ميلادي لسيزې پورې د څلورو لسيزو په لړ کې د هارولډ کلي او جان ثيباد په وسيله رامنځ ته او پراخه شوې ده، د دې نظريې لومړنی جوړښت د ټولنيز تبادل له نظريې او د لوبې له نظريې سره يوځای رامنځ ته شوی او ځينې لومړني مفروضات يې يو له بل سره ګډ دي، د دې نظريې په بنســټ د متقابل تړاو جوړښــت تحليل او تجزيه شــوی دی، د تعاملاتو، اړيکو او د متقابل تړاو د پروسې مهمې ځانګړتياوې يې په ګوته کړې دي او د جوړښت اغيزه يې په انګېزو او تګلارو شرح کړې دی.

د متقابل تړاو په اړه د بحثونو پيل له دوهمې نړيوالې جګړې څخه وروســته پيليږي چې د فن آوری او ټکنالوژۍ د رامنځ ته کېدلو او ودې سره ســم د دولتونو تر منځ يې متقابلې اړيکې رامنځ ته کړې او اقتصــادي لاملونو حتی د پروني دښــمنانو تر منځ متقابل تړاو او اړيکې رامنځ ته کړې دي، که په ســاده توګه ووايو؛ هغه څه چې د دې مفهوم تر شـــا پراته دي؛ دا دي چې دولتونه او ټولنې د هغه پيښـــو او تګلارو په پرتله چې په نورو هېوادونو کې رامنځ ته کيږي، زيان منونکي دي او د يو هېواد د اقتصـــادي ودې او ســـياسي ثبات، وړاندې شرط ګڼل کيږي چې نور هېوادونه هم لدې ورته شرايطو څخه ګټه واخلي (وحيدی راد، ۱۳۹۲: ۵-۶).

د هېوادونو تر منځ متقابل تړاو دوه اړخونه لري؛ زيان منه او حساسيت؛ حساسيت د دولتونو د حساس والی درجه په نورو دولتونو کې د بدلونونو او پيښـــو په وړاندې څرګندوي او زيان منه د هغه لګښــتونو وېش ته ګوته نيسي چې د هغه په بنسټ دولتونه د دې بدلونونو او پيښو په وړاندې د غبرګون له امله يې زغمي (قوام، ۱۳۹۰: ۳۸). حســاس ترين لوبغاړي له تړاو څخه د تېښــتې هڅه کوي او ډېر زيان منونکي دولتونه د دې تړاو د پياوړتيا لپاره کار کوي (Remizov, 2013: 4). پدې توګه د متقابل تړاو د نظريې بنســتيز مفاهيم عبارت دي له: «متقابل تړاو، ځواک (قدرت)، لګښــت (هزينه)، حســاســيت، زيان منه، نيردې والی (تقارن) او لېرې والی (عدم تقارن).

د انرژۍ د توليدکوونکو، صـــادرونکو، ترانزيت کوونکو او مصرــف کوونکو هېوادونو ټولګه د متقابل تړاو په شبکه کې قرار لري او د نړيوالې انرژۍ جوړښت اصولاً د همدې وضعيت د ملاتړ په پار رامنځ

ته شـوی دی او هریو لدې ټولګې څخه د هرې پېښـې له امله چې هر چېرې او هر وخت په عرضــه او تقا ضا کې رامنځ ته شي؛ زیان منونکي دي، د انرژۍ په حوزه کې خپلواکي د نورو ناپېیلو سیا ستونو په توګه د ډېر لګښــت ورکړه، د انعطاف نه منل او په پایله کې د انرژۍ د امنیت نه شــتون د عرضــې د ګډوډېدو پرمهال، رامنځته کوي، له هرې سوداګریزې اړیکې سره چې د انرژۍ د یوې سرچینې د تولید یا سوداګرۍ په وسیله په نړیواله کچه رامنځ ته کیږي، هېوادونه سوداګریزې اړیکې ترلاسه کوي، د نړۍ د ټولو هېوادونو له ټولګې څخه، هېڅ هېواد هم د انرژۍ په حوزه کې خپلواک ندی، البته سره له دې چې د انرژۍ په عرضه کې ذاتي شخړې او ګډوډۍ شتون لري، ولې د انرژۍ سوداګري په نړۍ کې په ښه توګه ترسره کیږي.

په سیمییزه او نړیواله کچه، په ځانګړې توګه د مرکزي آ سیا سیمه، د انرژۍ د امنیت د تأمین په پار او د ترکمنســتان د تمایل له مخې، چې بېلابېلو بهرنیو بازارونو ته د لاسرسي لپاره یې د طبیعی ګازو او نفتو د لېږد د مســیرونو د پراختیا او له روســې سره د تړاو د کمولو هوډ لري، افغانســتان یې له ترکمنســتان او د ســیمې او نړۍ له نورو هېوادونو سره د انرژۍ او په ځانګړې توګه د طبیعي ګازو او نفتو په برخه کې د متقابل تړاو په شبکه کې واقع کړی دی، چې له دې امله افغانستان ته یو لړ اقتصادي او سیاسي-امنیتي فرصتونه په لاس ورځي او ترڅنګ یې افغانستان له یولړ سیاسي-امنیتي، ګواښونو، ننګونو او ستونزو سره هم مخ کړی دی.

### III. جیوپولیټیکي نظریات

جیوپولیټیک چې په ســیاسي اقداماتو د جغرافیایي عناصرو نفوذ او اغیز تر څېړنې لاندې نیسي—، په نړیوالو اړیکو کې د واقع ګرایي د تګلارو یوه برخه ده (قاســمي، ۱۳۹۰: ۲۹) د شــلمې پېړۍ په لومړۍ نیمه برخه کې جیوپولیټیک د هېوادونو د بهرني ســیاســت په ټاکلو کې د جغرافیایي لاملونو ونډې ته اشــاره کوله، لدې کبله جیوپولیټیک د دې دورې د جوړښــت په لومړي سر کې یعنی د (۱۸۷۵) او (۱۹۴۵) کلونو تر منځ د ځواک د ترلاســه کولو د وســیلې په توګه د اســتعماري ځواکونو د ســیالۍ د موضــوع په توګه رامنځ ته شــو (صــفوي و شــیخیانی، ۱۳۸۹: ۳) مګر د وخت په تېرېدو سره د جیوپولیټیک؛ جغرافیا محور مفهوم نوي اړخونه پیدا کړل.

د نولسمې پېړۍ په دوهمه نیمایي کې جیوپولیټیک د آلفرد تایر ماهان د نظریې له مخې په ښکاره توګه را څرګند شــو، نوموړي د ســمندري ځواک نظریې ته په اهمیت ورکولو باور درلود؛ هغه ځمکې چې مناســب ســمندري موقعیت لري، ځواکمن هېوادونه دي (ملکوتیان، ۱۳۸۳: ۳۸-۳۵)، نوموړي په ســمندرونو واک په ځانګړې توګه په ســتراتیژیکو تنګیو واک د لویو ځواکونو د شــتون لپاره اړین ګڼلو (صفوي و شیخیانی، ۱۳۸۹: ۳).

ماهان لومړی کس ؤ چې پر سمندري ځواک او د امريکا کنترول د پانامې په نوي جوړ شوي تنګي د ټينګار له مخې يې د امريکا سياست جوړونه تر اغيز لاندې راوستله، لدې سره بايد د هارټلنډ نظريه د جيوپوليټيک د ټولو بحثونو پيلامه وګڼو چې د سرهلفورډ مکيندر له خوا په (۱۹۰۴) کال کې وړاندې او په (۱۹۴۳) کال کې بشپړه شوه، مکيندر د بريتانيا د زيان منني لامل د هېوادونو ځواکمن توب ګڼلو، مکيندر درې لويې وچې يعنې آسيا، اروپا او افريقا يې نړيواله جزيره ونوموله او مرکزي برخه يې هارټلنډ ونوماوه (صفوي، شيخياني، ۱۳۸۹: ۴)، همدارنګه يو ساحلي قوس يې د هارټلنډ چارچاپېره چې تر آزادو سمندرونو اوږديږي، داخلي هلال و نوماوه (ملکوتيان، ۱۳۸۳: ۴۱)، وروسته يې وويل؛ هرڅوک چې په ختيځه اروپا حکومت وکړي، د ځمکې د زړه او دغه د محوري سيمو حاکم به وي، څوک چې د ځمکې په زړه حاکم شي، د نړيوالې جزيرې فرمانروا به وي او څوک چې په نړيواله جزيره حاکم شو د نړۍ فرمانروا به وي.

مکيندر په (۱۹۴۳) کال کې د لوېديځ هارټلنډ لمنه د ختيځې اروپا تر سيمو پراخه کړله چې د ايران، افغانستان او مرکزي آسيا لويې برخې او د روسيې مهمې برخې پکې شامليږي. نيکولاس جان اسپايکمن په مکيندر د نيوکې په پار د ريملنډ نظريه وړاندې کړله (ملکوتيان، ۱۳۸۳: ۵۰)، اسپايکمن د هارټلنډ چارچاپېره برخې چې د داخلي او بهرني هلال په توګه د مکيندر پام وراوښتی ؤ، ريملنډ و نوماوه او دې سيمې ته يې تر هارټلنډ ډېر ارزښت ورکړ، ځکه چې يادې سيمې د سمندر او وچې د ځواکونو د ترکيب امکان منځ ته راوړی دی (عزتي، ۱۳۸۰: ۱۶).

لدې کبله پدا سې حال کې چې مکيندر په ځمکني ځواک باور درلود، ا سپايکمن د وچې او سمندر د ځواک ترکيب ته ارزښت ورکړ (ملکوتيان، ۱۳۸۳: ۵۱)، د ا سپايکمن له نظره، افغانستان د آ سيا په زړه کې واقع دی (حکمت نيا، ۱۳۸۳: ۱۰۰).

د شوروي په راپرځېدلو او د سړې جګړې له پای سره سم د نظامي خوځښتونو ارزښت لږ شو او د جيواکانوميک موقعيت د لاسته راوړلو په سر، سيالي رامنځته شوله، پدې توګه منځنی ختيځ او په ځانګړې توګه د فارس خليج او د خزر سمندر ددې ځواک د لرلو په دليل مهمې جيوستراتيژيکې او جيو اکانوميکې سيمې دي، دغه ځانګړنې د هېوادونو د وچې او سمندري ځانګړتياوې د ځواک موندنې د لامل په توګه ډېر ارزښت ترلاسه کړ، ځکه چې د هېوادونو له پرمختګ سره د سمندر او وچې ذاتي ارزښت تت او د دې دواړو ترکيب له نويو برخو سره د جيوپوليټيک نوی ډول رامنځ ته کړ.

د جيواکانوميک او د اقتصادي ځواک د ارزښت موندلو له نظره، د انرژۍ د سرچينو په سر سيالۍ او انرژۍ ته ورځ تربلې ډېرېدونکې اړتيا په ځانګړې توګه د ختيځې آسيا او جنوبي آسيا د تازه صنعتي

شـویو هېوادونو لخوا سـیالی او د انرژۍ د اسـتخراج، ګټه اخسـتنې، لېږد او د وړاندیز شـویو لارو لپاره هڅې د جیوپولیټیک په بحثونو کې یې نوي مســایل را پرانیســتل، دغه لیدلوری د انرژۍ د هارټلنډ د ستراتیژیکې بیضې (هګۍ) نوم ترلاسه کړ چې د جفری کمپ لخوا مطرح شو (صفوي او شیخیاني، ۱۳۸۹: ۴)، افغانسـتان له سـتراتیژیکې بیضـې سره د ګاونډیتوب په پار ارزښـت ترلاسـه کړ، همدارنګه افغانســتان د امریکا له امنیتي حوزې څخه د بهر هېواد په توګه چې د مهمو ځواکمنو هېوادونو د ګاونډیتوب په وسیله لکه روسیه، چین، پاکستان او ایران او ستراتیژیک موقعیت د دې هېوادونو د نفوذ په حوزه کې، د مرکزي آســیا او د خزر حوزې د انرژۍ سرچینو ته د نیږدې والي له امله، ځانګړی جیوپولیټیک جذابیت یې د امریکا لپاره رامنځ ته کړی دی.

امریکا لږ تر لږه د یوویشــتمې پېړۍ تر لومړۍ نیمایي پورې د جیوپولیټیک په وړاندې لیدلوري کې د فارس خلیج او د خزر سمندرګی یې د انرژۍ د تأمین لپاره دوه اصلي سرچینې ګڼلې، لدې کبله د امریکا له موخو څخه یو هم په افغانستان یرغل، د اورا سیا د دهلیز طرحه ګڼلای شو، پدې ا ساس د وخت په اوږدو کې بېلابېل مادي او غیر مادي لاملونه په نړیوال سـیســتم کې د هیوادونو د موقعیت او موقف ټاکونکي دي، پدې منځ کې ځینې هیوادونه له بېلابېلو تګلارو سره یې د جیوپولیټیک په اړه خپل موقعیت او موقف سـاتلی دی، پدې مانا، د ماهان او مکیندر د سـمندري نظریې له مخې نه یوازې چې له ســتراتیژیک موقعیت څخه برخمن دي، بلکه د جفری کمپ د انرژۍ د هارټلنډ په نظریه کې هم ځای لري چې افغانستان له همداسې موقعیت څخه برخمن دی.

د افغانستان ګاونډیتوب د انرژۍ له حیاتي او بډایه سیمې سره، د دې هیواد اهمیت یې لا ډېر کړی دی (صـفوي او شـیخیاني، ۱۳۸۹: ٦). د مکیندر د هارټلنډ د نظریې له مخې افغانسـتان د آسـیا د هارټلنډ په ســیمه کې هم ځای لري چې د ســتراتیژیکو شرایطو درلودونکی دی (حکمت نیا، ۱۳۸۳: ۱۰۰)، د امریکا راڅرګندېدل د نوي ځواک په توګه په ځانګړې توګه د سـړې جګړې په دوران کې د افغانسـتان اهمیت د مکیندر او سـپایکمن د نظریو له مخې ډېر د بررسـۍ وړ دی، په هغه وخت کې چې د امریکا او روسـیې سـیالي اوج ته رسـیدلې وه، افغانسـتان له دې امله چې د هارټلنډ یوه برخه ګڼل کیږي، د دې دوه ځواکونو تر پام لاندې ؤ (صفوي او شیخیاني، ۱۳۸۹: ٦).

پدې توګه د افغانستان جیوپولیټیکي موقعیت چې د کورنۍ بې ثباتۍ، نسبي موقعیت او حایلي سیمې، په وچه کې راګیروالی او د انرژۍ له ذخایرو سره ګاونډیتوب دي، دا عناصر د دې لامل شــول چې په (۱۹۱۹) کال کې یې خارجي ســیاســت د انګلســتان په اختیار کې واقع شي او په (۱۹۷۹) کال کې د شوروي اتحاد لخوا اشغال شي او له (۲۰۰۱) څخه ورو سته د امریکا او ناټو له خوا اشغال شي (خلیلي او نور، ۱۳۹۲: ۴۴-۴۱)، د نړۍ نوي بدلونونه او د جیوپولیټیک او ایډیولوژي یوله بل سره ګډیدل، د

امریکا سیاست یې د افغانستان په اړه د یو مهم ځواک په توګه له دوهمې نړیوالې جګړې څخه وروسته ترنن ورځې پورې را ټوکولی دی.

پدې بنسټ د متقابل تړاو او د جیو پولیټیکي نظریاتو؛ مفروضاتو ، محتویاتو او بنسټونو ته په کتلو سره د دې څېړنې اجزاوې چې د افغانستان او مرکزي آسیا جیوپولیټیکي، جیواکانومیکي او جیوستراتیژیکي موقعیت او ځانګړتیاوې؛ د شمال-جنوب د ترانزیت طرح او افغانستان د دې طرحې په مسیر کې او د شمال – جنوب د ترانزیت د طرحې اقتصادي او سیاسي-امنیتي ستونزې او فرصتونه؛ تر عنوانونو لاندې طرح شوي؛ یو مناسب عملیاتي تړاو لري او ددې نظریاتو پر بنسټ دا موضوعات په غوره توګه د تحلیل او تجزیې وړ دي.

## ۲ـ د څېړنې میتودولوژي

دا څېړنه د تو صیفي-تحلیلي تګلارې پر بنسټ ترسره شوې ده او د څېړنې د مو ضوعاتو د بشپړتیا لپاره له کتابونو، مقالاتو او معتبرو انټرنېټي سایټونو څخه ګټه پورته شوې ده، پدې بنسټ د دې څېړنې په اړه د معلوماتو او اطلاعاتو د تحلیل، د فر ضیې او پو ښتنو؛ ځواب او موخو ته د ر سېدو په پار له تو صیفي-تحلیلي تګلارې څخه کار اخیستل شوی دی.

## ۳ـ موندنې

### د افغانستان او منځنۍ آسیا؛ جیوپولیټیک، جیوا کانومیک او جیوستراتیژیک موقعیت او ځانګړتیاوې:

په دې برخه کې د موضوع او مسئلې د ښه وضاحت او روښانتیا په موخه د افغانستان او منځنۍ آسیا جیو پولیټیکي، جیواکانومیکي او جیوستراتیژیکي موقعیت او ځانګړتیاوې په بېله-بېله توګه ترڅېړنې لاندې نیسو.

### الف: د افغانستان جیو پولیټیک، جیواکانومیک او جیوستراتیژیک موقعیت او ځانګړتیاوې

افغانستان چې (۶۵۰۰۰۰) کیلومتر مربع مساحت لري، داسې یو هېواد دی چې د آسیا د زړه په توګه پېژندل کیږي او د څلورو سیمییزو سیستمونو (لوی منځنی ختیځ، مرکزي آسیا، د آسیا جنوب او د آسیا ختیځ) تر منځ یې یو پېچلي متقابل تړاو رامنځ ته کړی دی او د دې سیستمونو د څلور لاري حیثیت لري (پشګاهی‌فرد او رحیمي، ۱۳۸۷: ۱۰۸ و ۱۰۹).

په جیوپولیټیک کې مهم لاملونه لکه: فضـــا او د فضـــا وېش، د خاورې پراختیا، د یو هېواد توپوګرافي (سرحدونه، د اوبو شـــبکې، نا هموارې ســـاحې) او د یو هېواد شـــکل د ثابتو لاملونو په توګه؛ جمعیت، طبیعي سرچینې، ســـیاسي او ټولنیز بنســـټونه د متغییرو لاملونو په توګه پېژندل کیږي (حافظ نیا، ۱۳۸۱: ۷۶).

۱- موقعیت: موقعیت د جغرافیایي ځواک له لاملونو څخه دی چې د ځمکې د طبیعي وضـعیت او ملي قدرت تر منځ اړیکې جوړوي او د ځمکې په کره باندې د هېواد واقع کېدل مونږ را په ګوته کوي چې د لویې وچې، نړۍ او یا سـیمې په مقیاسـونو کې د وچې، سـمندري او ګذرګاهي موقعیتونو د ویش وړ دي (اطاعت، ۱۳۷۶: ۳۵). چې افغانستان د وچې او ګذرګاهي موقعیت یوه غوره بېلګه ده.

۲- پراختیا: افغانســـتان د پراختیا له اړخه د «پاندز» د وېش له مخې چې د نړۍ هېوادونه یې د پراختیا په بنسټ په (۸) ډلو وېشلي د نړۍ څلوېښتم او د آسیا د لویې وچې پنځه لسم هېواد ګڼل کیږي او د لویو هېوادونو په ډله کې راځي او د مرکزي آســیا د هېوادونو او ګاونډیانو په منځ کې پنځمه رتبه لري (حسینی، ۱۳۹۷: ۴۲).

۳- د هېواد شکل: هېوادونه د شکل له مخې په پنځو ډلو وېشل کیږي: دایروي یا مستطیلي، اوږد شکل لرونکي، لکۍ لرونکي، ټوټه-ټوټه او چاپېریالي هېوادونه (اطاعت، ۱۳۸۶: ۴۹). چې افغانســـتان د لکۍ لرونکو هېوادونو په په ډله کې راځي او دا ډول شـــکل له یو اړخه د یو مزیت او له بله اړخه د یو ګواښ په توګه ثابتېدلای شي.

افغانســـتان آزادو اوبو ته لاره نلري او په وچه کې راګیر دی، خو د افغانســـتان په اړه باید پدې ټکي ډېر ټینګار ونشيـ، د بېلګې په توګه ســـویس یو په وچه کې راګیر هېواد دی اما نن ورځ د نړۍ یو صـــنعتي هېواد دی (شـــاران، ۱۳۹۰: ۱۴۰). د افغانســـتان په وچه کې راګیروالی له نورو امکاناتو څخه د ګټې اخســـتنې په صـــورت کې چې د افغانســـتان جیوپولیټیک، جیوســـتراتیژیک او جیواکانومیک موقعیت، ســـیاسي تصـــمیم نیوونکو ته په اختیار کې ورکړي دي، د رفع کېدلو وړ دی، د افغانســـتان څلورلاریز موقعیت او له ګاونډیانو سره د ګډو اقتصـــادي ګټو پیوند، دغه ګواښ له منځه وړلای شي (رحیمی، ۱۳۹۰: ۱۲۶).

۴- پولې (سرحدونه): سرحدونه د دولتونو د هویت د ټاکلو او بېلوالي اغېزناکې وســـیلې دي، د مرزونو بنسټ، مبنا او د مسیر تګ‌لوری یې په ټولیزه توګه امنیت ته له پاملرنې، تاریخي میراث، موافقتنامو او له نظامي اخ و ډب څخه سرچینه اخلي، ولې په نهایي ډول د سرحدونو هندسي شکل له جیو ستراتیژیک تفکراتو څخه زېږېدلی دی (حسینی، ۱۳۹۷: ۴۳).

افغانستان له ټولو خواؤ څخه سمندري پوله نلري، مګر د دې هېواد د شمالي پولې ستره برخه د آمو له سیند څخه جوړه شوې؛ چې دې پولې ته یې یو پېچلی شکل ورکړی دی او ډېری پولې یې د ا ستعمار په وسیله جوړې شوي او تپل شوې پولې دي چې فرهنګي او ټولنیزې څېرې ته په نه پاملرنې او د استعمار د ګټو په بنسټ منځ ته راغلې دي، افغانستان په ټولیزه توګه له ګاونډیانو سره (۵۸۰۰) کیلو متره ګډه پوله لري. دا هېواد له شمالي ګاونډیانو (تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان) سره (۲۳۸۴) کیلو متره، د چین له سین کیانګ ایالت سره له (۷۳) څخه تر (۹۳) کیلومتره،، له ایران سره له (۸۵۵) څځه تر (۹۳۶) کیلو متره او له پاکستان او جموکشمیر سره (۲۲۴۰) کیلو متره ګډه پوله لري (حسیني، ۱۳۹۷: ۴۳).

۵- د اوبو شبکې: د اوبو شبکې د جیوستراتیژۍ، اړیکو او د سوداګرۍ د پراختیا، د ملي یوالي د پراختیا- بشپړتیا، اقتصادي ودې او همدارنګه د نظامي او امنیتي ابعادو په برخو کې، په ټولیزه توګه د یو هېواد د ملي ځواک د کچې په برخه کې د ډېرو اغېزو درلودونکې دي. افغانستان د غرني موقعیت له امله د داسې سیندونو سرچینه ده چې د شمال او جنوب ټيټو سیمو ته چې د یو بهرني لوري پر خوا په خوځښت کې دي. د افغانستان د اوبو اصلي شبکې د آمو (جیحون) سیند، د هلمند-ارغنداب سیند، د هریرود، کابل او له داسې نورو سیندونو څخه جوړه شوېده چې دا ټول سیندونه د ګاونډیو هېوادونو خواته بهیږي، د بهرني سیاست او له ګاونډیانو سره د اړیکو په برخه کې، افغانستان د دې سیندونو د سرچینې په توګه کولای شي لدې سیندونو څخه د دیپلماتیکو وسایلو او ابزارو په توګه کار واخلي، (کریمي پور، ۱۳۷۹: ۱۴۲). د افغانستان دولتونه د دې سیندونو د شتون له مخې کولای شي له ګاونډیو هېوادونو سره د دوستانه اړیکو د پراختیا او اقتصادي ودې په برخه کې په غوره توګه ګټه واخلي.




شکل ۱:

(https://harta.infoturism.ro/Asia/Pakistan/harta-interactiva)




شکل ۲:

https://www.facebook.com/100025790404185/posts/

٦- طبیعي سرچینې: د هر هېواد حقیقي او واقعي ارزښـــت د سرچینو په ډېروالی، کیفیت او څرنګوالی پورې اړه لري، د یو هېواد شـــتمني له سرچینو او تولیداتو څخه د ګټې اخســـتنې په ډول پورې تړلې ده. کېدای شي یو هېواد ډېرې شتمنۍ ولري ولې نشي کولای چې له دې شتمینو څخه ګټه پورته کړي لکه ډېری افریقایي هېوادونه (عزتي، ۱۳۸۲: ۹۳). طبیعي سرچینې لدې اړخه چې اقتصـــادي ځواک ګڼل کیږي په غیرمستقیمه توګه په نظامي ځواک کې هم دخالت لري، لدې کبله د یو هېواد د سیاسي قدرت په ټاکلو کې رغنده ونډه لري (اطاعت، ۱۳۷٦: ٥٣). او به هم د طبیعي سرچینو له ټولګې څخه ګڼل کیږي چې د اقتصادي ځواک په برخه کې او له نورو هېوادونو سره په اړیکو کې اغېزناکه ونډه لري.

افغانســـتان د معدني ذخایرو له مخې یو شـــتمن هېواد ګڼل کیږي اما ډېری معدني سرچینی اســـتخراج شـــوې ندي او ځینې یې لا کشـف او پېژندل شـوې هم ندي او لا تراوسـه د دې ذخایرو دقیق او کوټلې آمار او اطلاعات ندي خپاره شوي. اما د افغانستان مهمترین پېژندل شوي معدني ذخایر عبارت دي له: طبیعي ګاز، د ډبرو سکاره، د او سپنې تیږي، نفت، مس، یورانیم، لیتیوم، یاقوت، زمرود، لاجورد، بیروج، آلمونیم، سرپ، نه سوزېدونکې پنبه او نور (علی آبادي۱۳۷۳: ۸۰، و رحیمی، ۱۳۹۱: ۹۰).

د امریکایي اشـــغال په دوره کې د امریکا لخوا د ځینو معدني ذخایرو د چپاول خبرونه خپاره شـــول. د المونیم، طلا،ســـپینو زرو، روی او جیوه د ســـترو معدنونو تر څنګ، د غزني ولایت د لومړنی تجزیې او تحلیل له مخې لیدل کیږي چې په دې ســـیمه کې د بولیویا د هېواد د لیتیومو د ســـترو ذخایرو په اندازه (۲۱) میلیون ټنه لیتیوم لري، د یو راپور له مخې، په یوه نظرسنجونه کې چې په (۲۰۱۰) میلادي کال کې تر سره شـــوه، هغه ځمکپوهانو او څېړنکو چې د متحده ایالاتو نظامي برخې ته یې کار ترسره کولو، د افغانســـتان د لیتیومو ارزښـــت چې په غزني، هرات او نیمروز ولایتونو کې شـــتون لري؛ درې تریلیونه ډالر اټکل کړی دی.




شکل ۳: (USGS)

## ب: د مرکزي آسیا جیوپولیټیک، جیواکانومیک او جیوستراتیژیک موقعیت او ځانګړتیاوې

مرکزي آسیا د نړۍ په او سنۍ جغرافیه کې د دوه لویو وچو (آسیا او اروپا) د پیو ستون په نقطه کې قرار لري او له ډېر مهم جغرافیایي موقعیت څخه برخمنه ده. د مرکزي آسیا هېوادونه د شمال او لوېدیځ لخوا له روسیې او د خزر له سمندر سره، د جنوب لخوا له ایران او افغانستان سره او د ختیځ لخوا له چین سره په ګاونډ کې پراته دي. روسانو د غیر روسي قومونو د بېلولو د سیاست له مخې له تېرو تاریخي دورو څخه را پدې خوا له پراخه محدودې سره د ماورالنهر د تاریخي نوم پرځای دې سیمې ته د مرکزي آسیا اصطلاح کارولې ده. مرکزي آسیا د جیوپولیټیکي موقعیت له مخې په لوېدیځ کې د اروپا، په ختیځ کې د آسیا، په شمال کې د روسیې او په جنوب کې د اسلامي نړۍ تر منځ واقع شوېده. د دې سیمې هېوادونه په وچه کې راګیر دي او یوازې د ګاونډیو هېوادونو له خاورې څخه آزادو اوبو ته لاسرسی درلودلای شي. د مرکزي آسیا سیمه د انرژۍ د زېرمو (نفت او ګازو) د درلودلو له مخې د نړۍ دوهمه سیمه ده. سربېره پردې د کمیابو فلزي معدنونو لکه طلا، مس، یورانیم او نورو فلزاتو ډېر معدنونه لري، دا سیمه د ختیځ او لوېدیځ د فرهنګونو (ترکي او اسلامي) د تقاطع په سیمه کې پرته ده او له تاریخي اړخه د ورېښمو د لارې په مسیر کې واقع ده. مرکزي آسیا یوازینۍ سیمه ده چې د نړۍ څلور هستهای ځواکونه (رو سیه، چین، هند او پاکستان)، یو له بل سره نښلوي، دا سیمه د (۱۱) میلیون نفري مصرفي بازار درلودونکې ده او د قومي ډلو او متعددو مرزي اختلافاتو شتون دا سیمه په یوه بې ثباته سیمه بدله کړېده (ابوالحسن شیرازی، ۱۳۸۲: ۲۴ تا ۲۸). لدې سره شاید د مرکزی آسیا مهمترینه جیوپولیټیکي ځانګړتیا د شوروي له پاشل کېدلو او په ځانګړې توګه د سپتمبر د (۱۱) نېټې له پېښې څخه وروسته د دې سیمې بدلېدل د سیمییزو او نړیوالو ځواکونو د رقابت او سیالۍ په ډګر باندې وي.




شکل ۴: (https://en.wikipedia.org/wiki/Central_Asia)

پدې سیمییز سیستم کې د پنځو هېوادونو (ازبکستان، تاجکستان، قرغیزستان، قزاقستان او ترکمنستان) سربېره، پنځه سیمییز ځواکونه (رو سیه، ایران، ترکیه، هند او پاکستان) او درې نړیوال ځواکونه (امریکا،

اروپايي ټولنه او چين) د خپلو گټو په پار په سيالۍ او رقابت لگيا دي (حافظ نيا، ۱۳۸٦: ۹۱). چې د دوی تر منځ د سيالۍ له امله پدې سيمه کې بحران رامنځ ته شوی دی (واعظي، ۱۳۸٦: ۷۲).

## ۴-۱ د شمال – جنوب د ترانزېټ طرحه او افغانستان د دې طرحې په مسير کې

د افغانستان جيواکانوميک او جيوپوليټيک موقعيت د ورېښمو د لرغونې لارې د مسير په توگه، د جنوبي آسيا په سيمه کې د واقع کېدلو په دليل او د دې هېواد موقعيت د مهمو گاونډيو هېوادونو تر منځ هغه لاملونه دي چې د مرکزي آسيا او د آسيا د جنوب د هېوادونو لخوا له افغانستان څخه د ترانزېټ او ترانسپورټ د کانون په توگه گټه اخيستنه، د دې هېوادونو له بنسټيزه موخو څخه گڼل کيږي (Shoaib, Ahmad, 2015: ).

د مرکزي آ سيا هېوادونه آزادو اوبو ته لاسرسی نلري، د دې سيمې د گازو او نفتو لېږد د نورو هېوادونو مصرفي بازارونو ته د بېلابېلو نل ليکو غزلو ته اړتيا لري، لدې مخې د افغانستان جيوپوليټيک او جيواکانوميک موقعيت دا پټانسيل او وړتيا لري چې د مرکزي آسيا د انرژۍ لېږد؛ د آسيا جنوبي سيمې او د آزادو اوبو له لارې نړيوالو بازارونو ته آسانه او چمتو کړي او د انرژۍ د ترانزېټ د تبادلاتو د يو محور په توگه وپېژندل شي (عليرضايی، ۱۳۹۰: ۱۲۰). افغانستان د مرکزي او جنوبي آسيا ترمنځ د ترانزېټ د لنډ او آرزانه مسير په توگه د دې سيمو تر منځ د بشپړ سوداگريز پټانسيل او ظرفيت د پرانيستلو او په پايله کې په ټوله سيمه کې د يوې نوې سوداگرۍ په برخه کې کليدي ونډه لري. د بديلو مسيرونو په پرتله افغانستان کولای شی ډېر لنډ او د سيما وړ جاده يي، د او سپنې د پټليو، د گازو، نفتو او برېښنا د کرښو مسيرونه د مرکزي آسيا او جنوبي آسيا تر منځ چمتو کړي، دې مسائلو د متقابل تړاو د نظريې له مخې د افغانستان او مرکزي آسيا او د آسيا د جنوب تر منځ يو پېچلی متقابل تړاو رامنځ ته کړی دی او دا سيمې يې يو له بل سره په اقتصادي، سياسي-امنيتي مسائلو کې په پېچلې توگه تړلې دي. په دې بنسټ په (۱۹۹۰) ميلادي لسيزه کې د شمال-جنوب د ترانزېټ طرحه رامنځ ته شوې او د دې طرحې له اجزاؤ څخه د ټاپي او کاسا (۱۰۰۰) د برېښنا پروژو ته اشاره کولای شو چې د بېلابېلو مباحثو په لړ کې په لاندې توگه تر څېړنې لاندې نيول کيږي.

### الف: د ټاپي د گازو نل ليکه (TAPI)

د ترکمنستان د گازو د لېږد يو مسير چې د افغانستان له خاورې څخه پاکستان او له پاکستان څخه هندوستان ته غزيږي، د ټاپي (TAPI) د گازو نل ليکه نوميږي، ټاپي د ترکمنستان (Turkmanstan)، افغانستان (Afghanistan)، پاکستان (Pakistan) او هندوستان (India) د هېوادونو له لومړي توري څخه اخستل شوې. له اقتصادي اړخه د ټاپي پروژه د افغانستان لپاره يوه لويه پروژه ده، دغه سياسي لويه پروژه چې د ترکمنستان د ختيځ د دولت آباد-دومز له نفتي سيمو څخه سرچينه اخلي، دا نل ليکه د

افغانستان د هرات او کندهار له ولایتونو څخه تېریږي او د پنجاب ملتان سیمې ته رسیږي، د ترکمنستان، افغانستان او پاکستان دا نل لیکه یوه (۱۷۰۰) کیلومتري او د (۵٦) انچه قطر درلودونکې طرح ده چې په کال کې پنځه میلیارډ مترمکعب گاز، افغانستان، پاکستان او احتمالاً د هندوستان مصرف کوونکو ته؛ تر (۳۰) میلیارډ مترمکعب طبیعي گاز لېږدولای شي او د دې نل لیکې لگښــت (۷،٦) میلیارډ ډالره برآورد شــوی دی. د شــمال-جنوب د ترانزیټ طرحه، یوه ډېره مســتقیمه، لنډه او کم لگښــته لاره ده چې د افغانستان له مسیر څخه پاکستان ته غزیږي. د پاکستان سوداگریزه لاره چې د افغانستان له مسیر څخه مرکزي آسیا ته غزیږي، نیږدې (۱۰۰۰) کیلو متره له هغه جادې څخه چې د ایران له لارې مرکزي آسیا ته غزیږي؛ لنډه ده (وریج کاظمی، ۱۴۰۰: ۴۰۲).

د دې نل لیکې د غزېدو مسـئله په (۱۹۹۰) لسـیزه کې مطرح شـوه او دوه شرکتونه؛ یونیکال (امریکایي شرکت) او برایډس (ارژنټایني شرکت) هغه دوه شرکتونه ؤ چې د افغانسـتان له مسـیر څخه پاکسـتان او هندوسـتان ته د ترکمنسـتان د گازو د لېږد په برخه کې یې یو له بل سره سـیالي کوله، امریکا هڅه کوله چې دا پروژه به د یونیکال شرکت جوړوي ولې طالبانو دې ته ترجیح ورکوله چې دا پروژه باید د برایډس ارژنټایني شرکت لخوا جوړه شي، په همدې دلیل دا پروژه پدې پړاو کې و نه رغېدله او همدارنگه په (۱۹۹۰) لسیزه کې د امنیت د نه شتون له کبله دا پروژه پلې نشوه، ځکه چې د دې پروژې (۷۳۵) کیلومتره نل لیکه د افغانســتان د هرات او کندهار له نا امنو ولایاتو څخه تېرېدله، د طالبانو له دورې څخه وروسته په (۲۰۰۴) کال کې د ټاپي د نل لیکې مذاکرات د آسیایي پراختیا بانک په همغږۍ او د حامد کرزي او خلیلزاد په ابتکار سره پیل شــول او لدې څخه وروســته دا مســئله یوځل بیا مطرح شوله او په (۲۰۰۸) کال کې د څلورو هېوادونو «ترکمنستان، افغانستان، پاکستان او هندوستان» ترمنځ لومړنۍ هوکړې تر سره شــوې، مگر د انرژۍ د امنیت نه شـتون یوازینی دلیل ؤ چې دا پروژه پلې نشـوه (قادري، ۱۳۹۴: ). همدارنگه نورو خنډونو هم شتون درلود چې د دې پروژې په نه پلي کېدلو یې اغېز درلود، لکه؛ مرزي او ارضي اختلافات او پدې سیمو کې د سیمیزو او نړیوالو لویو ځواکونو نفوذ (ترابی او صانعي، ۱۳۹٦: ۳۱).

د دې نل لیکې طرحه درې پړاوونه لري؛ په لومړي پړاو کې د گازو نل لیکه د پاکســتان، ملتان ایالت ته رسـیږي، په دوهم پړاو کې؛ د بلوچسـتان ختیځ ته، تر گواډر بندر پورې اوږدیږي ترڅو مایع گاز جاپان او د منځني ختیځ هېوادونو ته صــادر کړي. دریم پړاو؛ د دې نل لیکې غزېدل دي د هندوســتان لوري ته. داســې اټکل کیږي چې د ترکمنســتان هېواد (۲۰۰) تریلیون متر مکعب د گازو ذخایر لري، که څه هم د دې ارقامو آمار تر (۹۸) او (۱۱۵) تریلیون متر مکعب پورې را ښکته شوېدي، ځینې ناظران پدې باور دي چې ترکمنســتان د طبیعي گازو د بالقوه صــادراتو د امکان له مخې ممکن د لومړي ځل لپاره پدې هېواد کې یوه د ډاډ وړ او گټوره خروجي لاره، د مرکزي آسیا پر هېوادونو سربېره؛ نړیوالو بازارونو ته عرضه کړي (وریج کاظمی، ۱۴۰۰: ۴۰۳).




شکل ۵: (https://medium.com/@chai2kul/the-indian-capitalist-tapi-gas-pipeline-and-india-s-future-in-eurasia-b8cb8b6f177)

افغانســتان د دې وړاندیز شــوې نل لیکې له مخې (۱۲) ســلنه ګټه ترلاســه کولای شي او یا په کال کې (۵۰۰) میلیون ډالره د مالکیت د حق (حق‌العبور) له مخې اخســتلای شي. سربېره پر دې کولای شي له (۱۲۰۰۰) څخه تر (۱۴۰۰۰) پورې ا شتغالات او دندې رامنځ ته کړي. پاکستان هم (۵۰۰) میلیون ډالره د مالکیت حق ترلاســـه کولای شي. دغه پروژه چې تړون يې په (۲۰۱۰) میلادي کال کې د څلورو هېوادونو (ترکمنستان، افغانستان، پاکستان او هندوستان) لخوا په اسلام آباد کې لاسلیک شوی دی؛ د دې پروژې عملي کار د (۲۰۱۵) میلادي کال د ډســامبر په (۱۳) نېټه د افغانســتان او ترکمنســتان د جمهورو رئیسانو، دپاکستان د لومړي وزیر او د هندوستان د جمهور رئیس د مرستیال په حضور کې د ترکمنستان د «ماری» په ښار کې پیل شـو. د نوموړې پروژې په تړون کې د ترکمنستان هېواد د طبیعي ګازو د چمتو کوونکي یا پلورونکي هېواد په توګه، پاکستان او هندوستان له ګازو څخه د ګټه اخستونکو او پېرونکو هېوادونو په توګه او افغانستان د دې نل لیکې د عبوري او کوچني ګټه اخستونکي هېواد په توګه ګڼل کیږي. د افغانستان لپاره د دې پروژې مستقیمې ګټې پورتنیو څرګندونو ته په کتلو سره؛ لدې ګازو څخه د (۱٦) سلنې ګټه اخستنې د پیسو د ورکړې په بدل کې او په کال کې د (۵۰۰) میلیون ډالرو ترلاســه کول د ترانزېټ او مالکیت د حق له مخې دي(وریج کاظمی، ۱۴۰۰: ۴۰۳). په (۲۰۲۴) میلادي کال کې یو ځل بیا د افغانستان د اسلامي امارت لخوا د دې نل لیکې د غزیدلو د چارو د پیل هوکړه تر سره شوله چې د ځینو مسائلو له کبله یې کارونه ټکني روان دي.

**ب: د کاسا (۱۰۰۰) د برېښنا پروژه (KASA-1000)**

کاسا (۱۰۰۰) یوه بله اقتصادي-تجاري پروژه ده چې له تېرو څو کلونو راهیسې د اجرایي کېدلو په لړ کې ده او د افغانستان د اقتصادي او جیواکانومیکي ودې د ترسره کولو لپاره يې شرایط چمتو کړيدي.

کاسا (۱۰۰۰) د برېښنا د سیمییزې انرژۍ د یوې مهمې زیربنا په توګه؛ د قرغیزستان او تاجیکستان له هېوادونو څخه د پاکستان هېواد ته د (۱۳۰۰۰) میګاواټه برېښنا د لېږد په وړتیا سره کولای شي چې په سیمه کې د برېښنا د انرژۍ د پیر او پلور د معاملاتو لپاره یو غوره بازار را منځ ته کړي (وریج کاظمی، ۱۴۰۰: ۴۰۳).

د مرکزي آسیا له هېوادونو څخه د جنوبي آسیا هېوادونو ته؛ د افغانستان له مسیر څخه د برېښنا د انرژۍ لېږد د مرکزي آسیا او د جنوبي آسیا د هېوادونو ګډې اقتصادي ګټې په یوه سیمیزه سوداګرۍ کې تر لاسه کېدلای شي. د افغانستان ونډه په سیمه کې د برېښنا د انرژۍ د لېږد په برخه کې د یو اغېزمن هېواد په توګه تثبیت شوېده او په عین حال کې لدې پروژې څخه د برېښنا د انرژۍ د ترانزېټ له لارې د عوایدو ترلاسه کول د افغانستان د اقتصادي ودې او ثبات د پیاوړتیا لپاره یو مهم لامل ګڼل کېدلای شي (mew.gov.af) او (وریج کاظمی، ۱۴۰۰: ۴۰۴).




شکل ٦: (Amu Tv)

د دې پروژې د اجرایي کېدلو په صورت کې، افغانستان د (۱۵) کلونو په لړ کې په کال کې له (۴۵) څخه تر (٦۵) میلیونو ډالرو په کچه د هېواد د ترانزېټ په توګه عواید ترلاسه کولای شي. افغانستان په ساعت کې د یو کیلوواټ برېښنا د ترانزېټ له مخې (۱,۲۵۵) سنته حق العبور ترلاسه کوي. له بله اړخه د کاسا (۱۰۰۰) د برېښنا لېږد کولای شي؛ افغانستان د برېښنا د وارداتو له مخې له مالي فشار څخه وژغوري او همدارنګه د خداماتو په چټکتیا او غوره‌والي کې مرسته وکړي. افغانستان له دې پروژې څخه کولای شي (۳۰۰) میګاواټه برېښنا په ټیټه بیه ترلاسه کړي (avapress.com). په دې بنسټ؛ افغانستان د مرکزي آسیا او د آسیا د جنوب د سیمو تر منځ په واقع کېدلو سره؛ په سیمه کې د انرژۍ د پیر او پلور په یو مهم بازار د بدلېدلو بالقوه ظرفیت او وړتیا لري. د افغانستان دا جیواکونومیکي ونډه له

یو اړخه کولای شي د نوموړو دوه سیمو د اقتصادي ودې او د همکاریو په پراختیا کې مرسته وکړي او له بله اړخه کولای شي د افغانستان لپاره سترې اقتصادي او سیاسي ګټې رامنځ ته کړي (وریج کاظمی، ۱۴۰۰: ۴۰۲).

**۴-۲ د شمال – جنوب د ترانزیټ د طرحې؛ اقتصادي او سیاسي-امنیتي ننګونې او فرصتونه**

په دې برخه کې لومړی د شمال-جنوب د ترانزیټ د طرحې اقتصادي او سیاسي-امنیتي ننګونې او وروسته د نوموړې طرحې فرصتونه تر بحث او څېړنې لاندې نیسو.

**۴-۲-۱ : د شمال-جنوب د ترانزیټ د طرحې ننګونې**

د شمال جنوب د ترانزیټ د طرحې ننګونې په دوه برخوکې تر څېړنې لاندې نیسو، په لومړۍ برخه کې د شمال-جنوب د ترانزیټ د طرحې ننګونې د افغانستان په وړاندې او په دوهمه برخه کې د شمال-جنوب د ترانزیټ د طرحې د پلي کېدو په وړاندې ننګونې تر بحث او څېړنې لاندې نیسو.

**۴-۲-۱-۱ د افغانستان په وړاندې د شمال-جنوب د ترانزیټ د طرحې ننګونې**

د ګاونډیتوب لامل د دولتونو تر منځ د تعاملاتو پر ماهیت او څرنګوالی ژوره اغېزه لري، ډېری وخت ګاونډیان یو له بل سره په جګړه اخته کیږي، ځکه چې ګاونډیان د لیرې هېوادونو په پرتله له یو بل سره ډېرې اړیکې لري؛ د ګاونډیتوب د لامل د اهمیت په اړه همدومره بسنه کوي چې د بیروني ګواښ په لړۍ کې، ګاونډی هېواد یا هېوادونه په بالقوه ډول د بحران د صدور، د ګواښ او اختلاف د تراکم له امله ممکن تر اغېز لاندې واقع شي (Karimipoor, 2001: 16-17). لدې مخې له یو هېواد سره ګاونډیتوب د خطرناک چلند په رامنځ ته کېدلو کې مهمه ونډه لري. او همدارنګه د ګاونډیانو شمېر هم د شخړو او لانجو په رامنځ ته کېدلو کې ونډه درلودلای شي (Hagget, 1972: 378).

کله چې د یو حکومت-ملت خپلواکي، ځمکنۍ بشپړتیا، یوالی، ملي امنیت او بنسټیز ارزښتونه د نورو ملتونو له جغرافیایي فضا او سیاستونو سره پیوند شي، د جیوپولیټیکي سرچینو مشاجره را منځ ته کیږي (Karimipoor, 2001: 16-17). دا موارد له یوې خوا کولای شي د سولې او امنیتي اقداماتو په وړاندې جدي ګواښ را منځته کړي او له بلې خوا کولای شي د امنیتي مسائلو د مدیریت په برخه کې د پېچلو ستونزو د رامنځ ته کېدلو لامل شي (حسین پور پویان، ۱۳۹۲: ۱۶۱-۲۰۳).

امنیت د هېوادونو لپاره پدې دلیل چې پر ملي پراختیا، د ملي موخو او ګټو د تأمین لپاره او له ټولو مهم د یو هېواد د ملي پایښت او ځمکنۍ بشپړتیا د ساتنې په برخه کې ژوره اغېزه لري، دومره مهم او

ارزښتناک ګڼل کيږي چې هېوادونه خپل شتون په نړيوال سيستم او نړيوال نظام کې، په هر قيمت او هر ډول شرايطو کې د امنيت د تأمين او ساتنې په ګرو کې بولي (حسين پور پويان، ۱۳۹۲: ۱۱۵).

لکه څرنګه مو چې په تېرو مباحثو کې اشاره کړېده، افغانستان داسې يو جيوپوليټيک، جيوستراتيژيک او جيواکونوميک موقعيت لري چې د سيمې څلور سيستمونه (مرکزي آسيا، د آسيا جنوب، لوی منځنی خاور «د فارس خليج» او چين) يې يو له بل سره تړلي دي او د دې سيستمونو ترمنځ يې يو پېچلی متقابل تړاو رامنځ ته کړی دی، دا موقعيت که له يوې خوا د افغانستان لپاره يو ستر مزيت ګڼل کيږي خو له بلې خوا د همدې حساس موقعيت له امله افغانستان ته يو لړ جدي ستونزې او ننګونې را ټوکېدلې دي او دا هېواد يې له پرلپسې بې ثباتۍ سره مخ کړی دی، په ځانګړې توګه د مرکزي آسيا د انرژۍ د ترانزيټ مسئله هغه لامل دی چې د افغانستان امنيت او ثبات يې ننګولی دی.

د مرکزي آسيا سيمه د جيوستراتيژيک او جيواکانوميک موقعيت او د انرژۍ د سترو ذخايرو درلودلو له کبله د امريکا، روسيې او چين لپاره ځانګړی اهميت او ارزښت لري، د شوروي له پاشل کېدلو سره سم، دا سيمه د دې لويو ځواکونو د سيالۍ ډګر ګرځېدلې ده، پدې توګه د تېرو لسيزو په لړ کې روسيې، چين، لويديځو ځواکونو او ځينو سيميزو ځواکونو د دې سيمې د بدلونونو د لوبغاړو په توګه هڅه کړېده چې د خپلو ځانکړو موخو او ګټو لپاره، اتحادونه، ائتلافونه او نوي سازمانونه رامنځ ته کړي او يا داچې همغږي هېوادونه له خپلو ځانګړو جوړښتونو سره يوځای کړي. امريکا د سپټمبر د يولسمې نېټې له پېښې څخه وروسته د بېلابېلو دلايلو پر بنسټ، قصد نلري چې د مرکزي آسيا ستراتيژيکه سيمه پرېږدي. د قفقاز په سيمه کې بحرانونه او د روسيې له کنترول څخه د دې سيمې بهر کېدل او د روسيې له لاس څخه د شمالي قفقاز وتل، د روسيې لپاره اندېښنه رامنځ ته کړېده، لدې مخې له چين سره د روسيې ائتلاف د شانګهای د همکارۍ په سازمان کې د روسيې له هغه تګلارو څخه ده چې غواړي امريکا تر فشار لاندې راولي، نفوذ او حضور را کم کړي او ختيځ ته د ناټو د پراخېدلو له تګلارې څخه مخنيوی وکړي، په همدې توګه روسيه په سيمه کې د چين له ځواک موندلو څخه وېره لري. چين هم په مرکزي آسيا کې د حضور د قوي انګېزې په لرلو او د امريکا د هژمونيکو سياستونو او ختيځ ته د ناټو د پراختيا د مخنيوي له ګواښ سره په مخامخ کولو، غواړي چې د مرکزي آسيا په سيمه کې نفوذ ترلاسه کړي، چې د دې رقابتونو او سياليو لړۍ په مرکزي آ سيا کې د نوې سترې لوبې په نامه شهرت موندلی دی (شفيعي، ۱۳۸۸).

مرکزي آسيا په نولسمه ميلادي پېړۍ کې د پراخه سياليو ډګر ؤ چې د دې پېړۍ په نيمايي کې روسيه او انګلستان د دې سياليو دوه اصلي لوبغاړي ؤ، تزاري روسيې د خپل ځواکمن اروپايي سيال سره د مقابلې په پار، د دې ځواک د ارزښتمنې مستعمرې (هندوستان) په لور حرکت وکړ چې افغانستان او مرکزي

آسـیا پدې مسـیر کې واقع ؤ. په (۱۹۹۱) کال کې د شـوروي اتحاد له پاشـل کېدلو سره؛ پدې سـیمه (مرکزي آسـیا) کې یوځل بیا سـتره لوبه رامنځ ته شـوله، اما دا ځل نه یوازې دوه لوبغاړي بلکه څو سیمیزو او نړیوالو لوبغاړو په مرکزي آسیا او د خزر د سمندر په شاوخوا کې«نوې ستره لوبه» رامنځ ته کړله (کولایی، ۱۳۸۴: ۱۱). د مرکزي آسـیا په جیوپولیټیکي سـیمه کې کولای شـو روسـیې، امریکا او اروپایي ټولنې، چین، ترکیې، اسرائیل، ایران او په دوهمه درجه کې هند او پاکسـتان ته د اصـلي لوبغاړو په توګه ا شاره وکړو، چې په دې ټولګه کې رو سیه په لومړی سطحه کې حضور او قرار لري او مرکزي آسیا د خپل نفوذ سیمه ګڼي، لدې مخې په شدت سره د نورو ځواکونو له حضور او نفوذ سره حساسیت لري او د روسـیې موخې پدې سـیمه کې د لوېدیځ له حضـور څخه مخنیوی په ځانګړې توګه د ناټو له پراختیا څخه مخنیوی (واعظی، ۱۳۸۸: ۱۱۲). د مذهبی او قومي پاڅونونو کنترول (شـیخ عطار: ۱۳۷۱: ۵۸). د ګډو ګټو هېوادونو ساتنه او تداوم. او د انرژۍ د ترانزېټ او لېږد د مسیرونو کنترول؛ ګڼلای شو. په دوهمه سطحه کې امریکا، اروپایي ټولنه او چین د مرکزي آسیا په سیمه کې حضور او نفوذ لري او د امریکا موخې پدې سـیمه کې؛ جیوپولیټیکي او اقتصـادي دي، چې دا موخې د انرژۍ کنټرول او پدې برخه کې د رو سیې د نفوذ کمول دي (فیاضي، ۱۳۸۶: ۱۶۲-۱۶۳). د اورا سیا په زړه کې حضور او نفوذ او پدې سـیمه کې د چین، روسـیې او ایران د حضـور او نفوذ د پراختیا په وړاندې مقابله او همدارنګه د ا سلام په وړاندې مقابله ګڼلای شو. اما اروپایي ټولنه د امریکا پر خلاف د انرژۍ سرچینو ته د لاسرسي په لټه کې ده، ترڅو له رو سیې څخه د وارداتو پر ځای، له دې سیمې څخه واردات ترسره کړي. د چین موخې په دې سیمه کې د انرژۍ سرچینو ته لاسرسی، د قومي بحرانونو حل، د بېلتون غوښتنې او اسلامي خوځښـتونو مهار کول، ملي امنیت او د نړیوالو ځواکونو له حضـور څخه مخنیوی ګڼلای شـو. په دې ترتیب د مرکزي آسـیا په سـیمه کې د حضـور او نفوذ له مخې؛ په درېیمه سـطحه کې ایران، ترکیه او اسرائیل قرار لري او په څلورمه سطحه کې هند او پاکستان قرار لري.

په دې بنسټ افغانستان د حساس جیوپولیټیکي-جیو ستراتیژیکي او جیواکانومیکی موقعیت له مخې د تاریخ په بېلابېلو پړاوونو کې د بېلابېلو جیوپولیټیکي او جیوسـترایتژیکي موخو په توګه د نړۍ د سـترو ځواکونو د توجه په مرکز کې واقع شوی دی (پیشګاهی‌فرد او رحیمي، ۱۳۸۷). چې د شمال-جنوب د ترانزېټ د طرحې، مطرح کېدل، د افغانستان واقع کېدل د دې طرحې په مسیرکې او په مرکزي آسیا کې د انرژۍ سرچینو ته د لاسرسي او نفوذ په پار د سیمیزو او نړیوالو ځواکونو ترمنځ سیالۍ او رقابتونه هغه دلایل او لاملونه دي چې لدې امله افغانستان د دې ځواکونو تر منځ د سیالۍ په ډګر بدل شوی او دې هېواد ته یې پراخه ګواښـونه او ننګونې را ټوکولې دي او هېواد یې له سـیاسي-امنیتي بې ثباتۍ او اخ و ډب سره مخ کړی دی.

## ۴ـ۲ـ۲: د شمال-جنوب د ترانزېټ د طرحې د پلي کېدو په وړاندې ننګونې

د شـــمال –جنوب د ترانزېټ د طرحې د پلي کېدلو په وړاندې يو لړ کورنيو او بهرنيو لاملونو ننګونې را ولاړې کړې دي چې هر يو يې د بېلابېلو برخو په لړ کې تر څېړنې لاندې نيسو.

### ۴ـ۲ـ۲ـ۱ : کورني لاملونه

د شـــمال-جنوب د ترانزېټ د طرحې پروړاندې يو شـــمېر کورني لاملونه شـــتون لري چې د دې طرحې تطبيق او تعميل يې له ځنډ او ځنډ سره مخ کړي دی او دا لاملونه له (۲۰۰۱ م کال څخه تر ۲۰۲۱ م) کال پورې د لاســـپوڅو، کمزورو او ناکارآمد دولتونو او پراخه فســـاد شـــتون، مخدره توکي او ســـياسي-امنيتي بې ثباتي ده چې په لاندې توګه په لنډه توګه تر بحث او څېړنې لاندې نيول کيږي:

**الف:** لاســـپوڅي، کمزوري او ناکارآمد دولتونه او پراخه فســـاد: له (۲۰۰۱) کال څخه تر (۲۰۲۱) کال پورې چې کوم دولتونه د بن د توافقاتو له مخې په افغانســـتان کې رامنځ ته شـــوي دي، لاســـپوڅي، کمزوري او ناکارآمد دولتونه ؤ، سره له دې چې په ډېره لوړه کچه نړيوالې مرســـتې له افغانســـتان سره تر سره شـولې، ولې د دولتونو د خپلواکۍ او وړتيا د نه شـتون، کمزورۍ او پراخه فساد له امله دا مرسـتې د هېواد په زېربينايي-بنسټيزه چارو او د افغانستان په سياسي-امنيتي او اقتصادي ثبات او ودې، د صنعت-توليد او اشـتغال جوړنې په برخو کې و نه لګول شـوې، دا مرسـتې د مفسـدو چارواکو لخوا حيف وميل شوې، افغانستان ونشو کولای چې د فساد په وړاندې په مبارزه کې بريالی شي، خلک له دولت څخه نا هيلي او زړتوري شـــول، تر دې چې دا دولتونه ورځ تربلې کمزروي کېدل او په پايله له ســـقوط سره مخامخ شول (فرجي راد، ۱۴۰۰: ۹). د دې دولتونو له سقوط څخه وروسته د افغانستان ا سلامي امارت حاکميت ترلاسه کړ، د افغانستان ا سلامي امارت سره له دې چې د نړۍ د هېوادونو له خوا په رسميت نه دی پېژندل شـوی او له ګڼ شـمېر کورنيو او بهرنيو سـتونزو او ننګونو سره مخ دی؛ هڅه کوي ترڅو د سيمې نړۍ له هېوادونو سره د متوازن او اقتصـاد محوره بهرني سـياسـت پرمټ، مثبت تعاملات ولري او لدې لارې د شـــمال-جنوب د ترانزېټ طرحې ته لار هواره او پلې يې کړي، چې پدې برخه کې يې د کتنې وړ پرمختګونه هم کړي دي.

**ب: نشه‌يي توکي:** په افغانستان کې د مخدره توکو کښت او قاچاق محلي، سيميز او نړيوال امنيت ته يو جدي ګواښ ګڼل کيږي، د اروپايي ټولنې شـورا له افغانسـتان څخه د نشـه‌يي توکو قاچاق د نړيوال امنيت، ســـولې او ثبات په وړاندې د يو جدي ګواښ په توګه پېژندلی دی (ســـجادپور او جهانبخش، ۱۳۹۳: ۸۶-۵۹). په افغانســـتان کې په پراخه توګه د نشـــه‌يي توکو کښـــت او قاچاق هغه لامل دی چې د

سیمې او نړۍ د هېوادونو باور یې د افغانستان په وړاندې کمزوری کړی دی، په افغانستان کې د نشه‌یي توکو تولید او قاچاق د تېرو لسیزو په لړ کې یوه جیوپولیټیکي ونډه ترلاسه کړېده (فرجی راد، ۱۴۰۰: ٦). په ځانګړې توګه روسیې او اروپایي هېوادونو ته د مرکزي آسیا د هېوادونو له لارې د نشه‌یي توکو پراخه قاچاق، هغه لامل دی چې د مرکزې آسیا له هېوادونو سره یې د افغانستان په اقتصادي، سیاسي-امنیتي اړیکو، ژوره بده اغېزه درلودلې؛ د افغانستان سیاسی-امنیتي ثبات یې له ننګونو سره مخ کړی او د شمال-جنوب د ترانزېټ د طرحې پلي کېدل یې له خنډ او ځنډ سره مخ کړي دي؛ چې اوس مهال د افغانستان د اسلامي امارت له حاکمیت سره سم دا ستونزه هواره شوې او پدې برخه کې سیمیز او نړیوال باور ترلاسه شوی دی.

**ج: سیاسي-امنیتي بې ثباتي:** سیاسي-امنیتي بې ثباتي د یو مهم کورني لامل په توګه د اقتصاد د امنیت له مفهوم سره نیږدې او معنی لرونکې اړیکه لري (یو سف زهی، فرزانه پور او بخشی، ۱۳۹۷). په افغانستان کې د بې ثباتۍ یوه لویه او عیني نښه، په حکومت دارۍ کې پراخه فساد دی (رحمانی او همکاران، ۱۳۹۴: ۱۴). اداري فساد چې په افغانستان کې یې سیاسي ثبات، امنیت، توسعه او اقتصاد ګواښلي او ننګولي دی یوه نړیواله پدیده ګڼل کیږي چې ډېرې ټولنې او اقتصادي نظامونه، په ځانګړې توګه ګاونډي هېوادونه یې اغېزمن کړیدي (د افغانستان د عدلیې وزارت، ۱۳۸٦: ۲). د یو اټکل له مخې (٦۰) سلنه شرکتونه وایي، اداري فساد یو له هغه لاملونو څخه دی چې په افغانستان کې یې د پانګونې مخه ډب کړېده (قاسمی، ۱۳۹۳: ٦۹).

له (۲۰۰۱ څخه تر ۲۰۲۱) میلادي کال پورې په افغانستان کې دوامداره سیاسي-امنیتي بې ثباتي د دې لامل ګرځېدلې ده چې د سیمې او نړۍ د هېوادونو د پانګوالو باور او اعتماد ترلاسه او بهرنۍ پانګونه ترسره نشي. په دې بنسټ د شمال-جنوب د ترانزېټ طرحه چې یوه لویه اقتصادي طرحه ګڼل کیږي او پدې طرحه ستره پانګونه کیږي، دې ته اړتیا ده چې په افغانستان کې بشپړ سیاسي-امنیتي ثبات تأمین شي، پدې بنسټ د شمال-جنوب د طرحې نه پلي کېدلو یو دلیل هم په افغانستان کې د سیاسي ثبات او امنیت نه شتون دی چې دا طرحه تر اوسه نده پلي شوې.

په ټولیزه توګه ویلای شو چې د شمال-جنوب د طرحې د پلي کېدلو په وړاندې ستر خنډونه په افغانستان کې د سوداګرۍ او اقتصاد په برخه کې د پراختیایي برنامو نواقص، د اقتصاد د ستراتېژیکو سرچینو نا متوازنه توسعه او پراختیا، د یرغلګرو او لاسوهنې د خوځښتونو په دلیل په افغانستان کې د دولت-ملت د جوړښت ترمنځ ژور درځ، ارضي او سرحدي اختلافات او لدې مخې امنیتي مسائل، د افراطي سیاستونو له مخې د امنیتي تشې رامنځ ته کېدل او د مرکزي اقتدار نه شتون، ګڼلای شو (وریج کاظمی، ۱۴۰۰: ۴۱۱). چې د افغانستان د اسلامي امارت په حاکمیت سره دا ستونزې تر ډېره بریده کابو شوې دي، د اشغال په پای ته رسولو او د ټولیز امنیت په تأمین، د فساد په له منځه وړلو او د مرکزي

اقتدار په رامنځ ته کولو سره هڅه روانه ده چې د اقتصادي او سياسي-امنيتي بنسټونو په وړاندې ټولې ستونزې پای ته ورسول شي.

**۴ـ۲ـ۲ـ۲: بهرني لاملونه**

افغانستان د حساس جيوپوليټيک، جيواکانوميک او جيوستراتيژيک موقعيت د درلودلو له مخې د سپټمبر د يولسمې نېټې له پېښې څخه وروسته د نړۍ په نوي جيو ستراتيژيک نظام کې ځانګړی ځای ترلاسه کړی دی (پيشگاهی فرد او رحيمی، ۱۳۸۷: ۱۰۷ و ۱۰۸). له همدې کبله افغانستان د سيميزو او نړيوالو ځواکونو د پام وړ ګرځېدلی او دا ځواکونه هڅه کوي، په افغانستان کې نفوذ، واک او حضور ترلاسه کړي.

په افغانستان کې د سياسي-امنيتي بې ثباتۍ په رامنځ ته کولو کې بهرني لاملونه، ژوره او پراخه ونډه لري چې لدې امله د افغانستان اقتصادي، سياسي-امنيتي وضعيت په جدي توګه له ګواښ او ننګونې سره مخ شوی دی او دا لاملونه د دې لامل ګرځېدلي دي چې د شمال-جنوب د ترانزېټ طرحه تر نن ورځې پورې پلې نشي، هغه هېوادونه چې د افغانستان په مسائلو کې په ژوره توګه ښکېل دي او افغانستان يې له سياسي-امنيتي بې ثباتۍ، ګواښ او ننګونو سره مخ کړی دی، د هغوی له ډلې څخه ډېر مهم او ژور اغيز لرونکي هېوادونه؛ امريکا، اروپايي ټولنه، روسيه، چين، ايران، پاکستان او د هندوستان هېوادونه دي، چې هريو يې په بېلابېله توګه تر بحث لاندې نيسو.

**الف: امريکا او اروپايي ټولنه:** افغانستان د بې ساري او ارزښتمن موقعيت له امله چې د انرژۍ د بډايه سيمو تر څنګ پروت دی؛ د سپټمبر د يولسمې نېټې له پېښې سره سم د امريکا او لوېديځو ځواکونو (ناټو) «اروپايي ټولنې» لخوا اشغال شو، ترڅو د اسلام پر ضد د جګړې ترڅنګ په لوی منځني ختيځ کې د چين، ايران او روسيې د پرمختګ او نفوذ مخنيوی او په مرکزي آسيا، د آسيا جنوب او د آسيا په ختيځ کې واک، حضور او نفوذ ترلاسه کړي او پدې سيمه کې هايدروکاربني او برېښنايي انرژي او د هغه د پېر او پلور بازارونه تر ولکه او د روسيې انحصار، واک او نفوذ په دې سيمه کې ترفشار لاندې راولي او له خپلو ګټو سره سم اقتصادي دهليزونه رامنځ ته کړي، چې په پايله کې د افغانستان د اسلامي امارت لخوا، له ماتې سره مخ شول او اشغال پای ته ورسيد (جوادی ارجمند، کريمی قهرودی و اخباری، ۱۳۹۴: ۳۳-۵۲). او اوس هم هڅه کوي چې پدې سيمو کې نفوذ او واک ولري.

**ب: روسيه:** روسيه د تاريخ په بېلابېلو پړاوونو کې د افغانستان په سياسي-امنيتي او اقتصادي مسائلو کې په پراخه کچه لاس لري (فرجی راد، ۱۴۰۰، ۴). په (۱۹۷۹) کال کې روسيې په افغانستان باندې يرغل

وکړو او د دې يرغل له کبله په افغانستان کې سياسي-امنيتي بې ثباتي رامنځ ته شوله، چې دا بې ثباتي او اغيز يې تر نن ورځې دوام لري او په افغانستان کې لا تر اوسه هم د افغانستان پر سياسي-امنيتي او اقتصادي مسائلو د دې يرغل بدې پايلې ادامه لري (احمدي، ۱۳۸۷: ۹۴-۹۵). روسيه هڅه کوي تر څو د مرکزي آسيا په سيمه کې؛ چې دا سيمه د خپل نفوذ سيمه ګڼي، د امريکا او لوېديځ د نفوذ او حضور مخه ونيسي او پدې سيمه کې پر انرژۍ خپل انحصار او واک وساتي، په ټوليزه توګه د روسيې موخې په دې سيمه کې؛ آزادو اوبو ته د لاسرسي په پار د ځمکني پل جوړول او د آسيا په جنوب کې د هايدروکاربني او ټکنالوژيکي محصولاتو د خرڅلاو لپاره بازار ته لاسرسی، ګڼلای شو (وريج کاظمی، ۱۴۰۰: ۴۱۲).

**ج: چين:** چين هم د سيمې هغه لوبغاړی دی چې د افغانستان او منځنۍ آسيا پر مسائلو ژوره اغېزه لري، چين د خپل مخ پر ودې صنعت او د اقتصاد د لاپياوړتيا په موخه انرژۍ ته ډېره اړتيا لري او همدارنګه د خپلو سوداګريزو توکو د پلور لپاره په سيمه او نړۍ کې د بازار موندلو په لټه کې دی، لدې مخې چين د مرکزي آسيا په سيمه کې هڅه کوي، خپل نفوذ او حضور پياوړی کړي ترڅو د انرژۍ سرچينو او د توکو د پلور لپاره بازارونو ته لاسرسی پيدا کړي، په مقابل کې امريکا او روسيه د مرکزي آسيا په سيمه کې د چين د نفوذ او حضور په وړاندې حساسيت او وېره لري، له دې امله په ياده سيمه کې د نوموړو ځواکونو ترمنځ کلکه سيالي روانه ده او دا سيالي د لامل ګرځېدلي چې د منځنۍ آسيا او افغانستان امنيت او سياسي ثبات له ګواښ سره مخ شي، په پايله دا مسائل د دې لامل ګرځېدلي چې د شمال-جنوب د ترانزيټ د طرحې د پلي کېدلو په وړاندې ستر خنډونه رامنځ ته کړي (وريج کاظمی، ۱۴۰۰: ۴۱۲).

**د: ايران:** ايران هم د يو بهرني لامل په توګه د افغانستان په سياسي-امنيتي او اقتصادي مسائلو کې ښکېل دی، ايران له افغانستان سره له يوې خوا د اوبو پر سر شخړې او لانجې لري او له بلې خوا د ايران او افغانستان ګډ فرهنګی، تاريخي، قومي او مذهبي مشترکات د دې لامل ګرځېدلي دي چې ايران هم د افغانستان په سياسي-امنيتي بې ثباتۍ کې ځرګنده ونډه ولري.

په ټوليزه توګه د ايران موخې؛ د مرزي، قومي، مذهبي او اقتصادي امنيت تأمين په ځانګړې توګه په ختيځو سرحدونو کې او په سيمه کې د امنيتي مناسباتو د رامنځ ته کولو لپاره د اقتصادي پايګاه جوړول، ګڼلای شو (وريج کاظمی، ۱۴۰۰: ۴۱۲). همدارنګه ايران هڅه کوي چې د شمال-جنوب کريډور د ايران له خاورې څخه تېر شي، دا ټول هغه لاملونه دي چې ايران يې دې ته هڅولی دی ترڅو په افغانستان کې بې ثباتۍ او نا امنۍ ته لمنه ووهي او دا مسائل د دې لامل ګرځېدلي دي چې تر اوسه د شمال-جنوب د ترانزيټ طرحه پلې نشي.

**و ـــ پاکستان:** پاکستان د افغانستان د سیاسي-امنیتي بې ثباتۍ په لړ کې یو مهم لامل ګڼل کیږي. د افغانستان او پاکستان ترمنځ اړیکې ډېرې پېچلې او ماتېدونکې دي، پاکستان د افغانستان امنیت او ثبات د خپل ملي امنیت په وړاندې ګواښ ګڼي او له پاکستان سره د افغانستان په سیاسي، اقتصادي او نظامي تړاو ډېر ټینګار کوي (پیشګاهی فرد او رحیمی، ۱۳۸۷: ۱۱۲). پاکستان له هندوستان څخه د وېرې له امله، د ډیورنډ په مسئله کې د افغانستان له وېرې چې د دې ادعا له مخې له پاکستان څخه یوه لویه برخه بېلېدلای شي او پاکستان له تجزیې سره مخ کیږي. اقتصادي کمزوري او له هندوستان سره د کشمیر پر سر د شخړو ورانوونکې پایلې، پاکستان دې ته اړباسي چې د افغانستان په وړاندې له تهاجمي تګلارې څخه کار واخلي او افغانستان ته د خپل ستراتیژیک عمق په سترګه وګوري (فرجی راد، ۱۴۰۰: ۳). چې پدې وروستیو کې په سرحدي کرښو کې د افغانستان د اسلامي امارت او د پاکستان د فوځ ترمنځ له نښتو وروسته؛ د پاکستان د حکومت د رسنیزو څرګندونو په لړ کې افغانستان د پاکستان له ستراتیژیک عمق څخه په لومړۍ درجه دښمن بدل شوی دی. لدې کبله د پاکستان هېواد د افغانستان د سیاسي-امنیتي وضعیت د بې‌ثباتۍ مهم لامل ګڼل ګیږي او په پرلپسې توګه هڅه کوي چې په افغانستان کې یو ځواکمن مرکزي دولت، سیاسي ثبات، اقتصادي وده او امنیت را منځ ته نشي، په ټولیزه توګه د پاکستان موخې؛ د ایډیولوژیک هژمون د پراختیا لپاره د عملیاتي صـــحنې جوړول او له هندوســـتان سره د شخړه‌ایزې فضا د جوړولو له لارې سیاسي ګټه اخیستنه، ګڼلای شو (وریج کاظمی، ۱۴۰۰: ۴۱۲). د پاکستان دا چلند او سیاست د دې لامل ګرځېدلی چې په افغانستان کې سیاسي-امنیتي ثبات له ګواښ سره مخ او د شمال-جنوب د ترانزېټ د طرحې پلې کېدل له خنډ او ځنډ سره مخ شي.

**هــ : هندوستان:** هندوستان هم د بهرني لامل په توګه له پاکستان سره د کشمیر په مسائلو کې د سیالۍ او رقابت په پار، چې افغانستان د خپل نفوذ حوزه ګڼي، د افغانستان په بې‌ثباتۍ کې ژوره ونډه لري، په افغانستان کې د دې هېوادونو اطلاعاتي او استخباراتي سیالي، د هند نظامي او د زده کړو مرستې، د هندي فرهنګ پراختیا او سوداګریزې اړیکې، په افغانستان کې د هند له فعالیتونو څخه دي، حتی د پاکستان او هند ترمنځ په افغانستان کې انفجاري فعالیتونه هم تر سره کیږي چې پاکستان د هند له دې فعالیتونو څخه په وېره کې دی او دا له هند سره د کشمیر د مسئلې له امله د خپل ملي امنیت په وړاندې ګواښ ګڼي، نو دا طبیعي ده چې د دې دوه هېوادونو رقابت او سیالي په افغانستان کې د بې‌ثباتۍ او ناامنۍ لامل ګرځي، همدې بې‌ثباتۍ او ناامنۍ افغانستان له هر اړخیزو ننګونو او ګواښونو سره مخ کړیدی (فرجی راد، ۱۴۰۰: ۴). په ټولیزه توګه د هندوستان موخې؛ د پاکستان د نفوذ د مخنیوي په پار د کورنۍ سوداګرۍ د وړتیا جوړونه او د پراختیایي او عمراني برنامو له لارې د پاکستان د ځان‌غوښتنې کنترول ګڼلای شو (وریج کاظمی، ۱۴۰۰: ۴۱۲). که څه هم اوس مهال د افغانستان د اسلامي امارت په حاکمیت سره په هېواد کې بې‌ثباتي او امنیتي ستونزې کابو شوې دي، ولې د افغانستان، پاکستان او

هندوستان ترمنځ د شخړهایزو مسائلو د شتون له امله د سیمې په کچه د بې ثباتي او ناامني شتون د دې لامل ګرځېدلی دی چې د افغانستان له مسیر څخه د شمال-جنوب د ترانزېټ طرحه لا تراوسه پلې نشي.

### ۴-۲-۳: د شمال – جنوب د ترانزېټ د طرحې اقتصادي او سیاسي-امنیتي فرصتونه

افغانستان د حساس جیوپولیټیکي او جیواکانومیکي موقعیت له امله د تاریخ په بېلابېلو پړاوونو کې د بېلابېلو جیوپولیټیکي موخو په توګه د نړۍ د سترو ځواکونو د توجه په مرکز کې واقع شوی دی (پیشګاهی فرد او رحیمي، ۱۳۸۷).

افغانستان د لارې په داسې یوه تقاطع کې واقع شوی دی چې د نړۍ زړه د هند له شبه قارې سره نښلوي، دا هیواد خپل اهمیت له موقعیت څخه ترلاسه کوي، دا سې موقعیت چې د وچې او سمندر سره کرښه لري او په تاریخ کې د نړۍ دلویو ځواکونو ترمنځ د ټکر نقطه وه.

د مرکزي آسیا د هېوادونو له خپلواکۍ سره سم چې دا هېوادونه په وچه کې راګیر دي او آزادو اوبو ته لاسرسی نلري، افغانستان د سیمې ستراتیژیک محور وګرځېد، او د منځنۍ آسیا د هېوادونو لپاره یوازینۍ او آرزانه لاره ده چې دا هېوادونه لدې لارې څخه د آسیا جنوب د هېوادونو بازارونو او آزادو اوبو ته لاسرسی ترلاسه کولای شي (تمنا، ۱۳۸۷: ۱۱۳).

افغانستان د مرکزي آسیا، د آسیا د جنوب، د آسیا د ختیځ او د لوی منځني ختیځ د ثقل د مرکز او د اقتصادي څلورلاري حیثیت لري او د انرژۍ د بډایه سیمو تر څنګ پروت دی، چې له یو غوره او بې ساري جیوپولیټیکي او جیواکانومیکي موقعیت څخه برخمن دی (جوادی ارجمند، کریمی قهرودی و اخباری، ۱۳۹۴: ۳۳-۵۲). پدې توګه افغانستان د منځنۍ آسیا د برخلیک جوړونکي لامل په توګه اهمیت او ارزښت لري (احمدي، ۱۳۸۷: ۹۴-۹۵).

د افغانستان جیواکانومیک او جیوپولیټیک موقعیت د وربښمو د لرغوني لارې د مسیر په توګه، او د دې هېواد موقعیت د مهمو ګاونډیو هېوادونو او سیمیزو سیستمونو تر منځ هغه لاملونه دي چې د دې هېوادونو لخوا له افغانستان څخه د ترانزېټ او ترانسپورټ د کانون په توګه ګټه اخیستنه، د هېواد له مزیتونو او فرصتونو څخه ګڼل کیږي (Shoaib, Ahmad, 2015: ). افغانستان د مرکزي آسیا له هېوادونو سره د ګاونډیتوب له مخې په سیمه او نړۍ کې د انرژۍ د یوې مهم ترانزیټي مسیر او بازار په توګه کولای شي د سیمې د اقتصاد په پراختیا کې بنسټیزه ونډه ولري. داچې د مرکزي آسیا هېوادونه په وچه کې راګیر دي او آزادو اوبو ته لاسرسی نلري، د دې سیمې د ګازو او نفتو لیږد د نورو هېوادونو مصرفي بازارونو ته د بېلابېلو نل لیکو غزلو ته اړتیا لري، لدې مخې د افغانستان جیوپولیټیک او جیواکانومیک موقعیت دا پتانسیل او وړتیا لري ترڅو د مرکزي آسیا د انرژۍ لیږد؛ د آسیا جنوب ته آسانه او چمتو

کړي او د انرژۍ د ترانزېټ د تبادلاتو د يو محور په توگه وپېژندل شي (عليرضـــايی، ۱۳۹۰: ۱۲۰). افغانستان د مرکزي او جنوبي آسيا ترمنځ د ترانزېټ د لنډ او آرزانه مسير په توگه د دې سيمو تر منځ د بشپړ سوداگريز پتانسيل او ظرفيت د پرانيستلو او په پايله کې په ټوله سيمه کې د يوې نوې سوداگرۍ په برخه کې د کليدي ونډې ظرفيت او وړتيا لري. د نورو مسيرونو په پرتله افغانستان کولای شي ډېر لنډ او د سپما وړ جاده يی، د اوسپنې د پټليو، د گازو، نفتو او برېښنا د کرښو مسيرونه د مرکزي آسيا او جنوبي آسـيا تر منځ چمتو کړي، دې مســائلو د متقابل تړاو د نظريې له مخې د افغانســتان، مرکزي آســيا او د جنوبي آ سيا تر منځ يو پېچلی متقابل تړاو رامنځته کړی دی او دا سيمې يې يو له بل سره په اقتصادي، سياسي-امنيتي مسائلو کې تړلې دي. د مرکزي آسيا هېوادونه؛ د سيمې له هېوادونو سره د هايدروکاربني او د برېښنايي انرژۍ سوداگري او د رو سيې له نظارت پرته د اقتصادي گټو د تأمين لپاره هڅې تر سره کوي او د دې هڅو د تعميل لپاره د افغانســتان له جيوپوليټيک موقعيت څخه گټه اخيســتنه د دې هېوادونو لپاره يوازينۍ او آرزانه لاره ده (وريج کاظمی، ۱۴۰۰: ۴۱۲).

له بلې خوا هندو ستان د خپل مخ پر ودې صنعت لپاره انرژۍ ته ډېره اړتيا لري او همدا ډول پاکستان د گازو او برېښــنا له کمښــت سره مخ دی، د دې هېواد اقتصـــاد له بېلابېلو ســتونزو؛ لکه بېکاري، ټکنۍ اقتصــادي وده او لوړ تورم، د دې مســائلو د رامنځته کېدلو او دوام يوازينی دليل د انرژۍ په برخه کې د کورنيو غوښتنو په وړاندې د پاکستان ناتواني ده، دا مسئله دومره اهميت لري چې د پاکستان لپاره په يوه کليدي سياسي، اقتصادي او ټولنيزه مسئله بدله شوېده. دا هېوادونه دې ته اړ دي چې د شمال-جنوب د ترانزېټ د طرحې له لارې د افغانستان له مسير څخه خپلې دا اړتياوې پوره کړي، امريکا هم له ايران او روسيې سره د اختلافاتو له مخې د افغانستان له مسير څخه د شـمال-جنوب د کريدور د تېرېدلو ملاتړ کوي، چين هم اړتيا لري چې د افغانســتان له مسـير څخه د يوې جادې او يو کمربند د طرحې د تعميل لپاره گټه واخلي.

دا ټول هغه فرصـــتونه دي چې د شـــمال جنوب د طرحې د پلي کېدلو چانس رامنځ ته کوي او د دې طرحې د تعميل په صـورت کې د افغانســتان او ســيمې د هېوادنو تر منځ ســياسي-امنيتي او اقتصــادي همگرايي رامنځته کېدلای شي، چې په پايله کې افغانســتان له يوې خوا تلپاتې ســياسي-امنيتي ثبات ته رســېږي او له بلې خوا د دې طرحې د تعميل په صـــورت کې افغانســـتان په ميليونونو ډالر د انرژۍ د ترانزېټ د حق العبور له مخې گټه او عايدات ترلاســه کوي او په هېواد کې په زرگونو کســانو ته د کار زمينه چمتو کيږي او په دې توگه به افغانستان د ښېرازۍ، سياسي-امنيتي ثبات، اقتصادي ودې، پرمختگ او پراختيا په لور سوق شي.

**۵ـ مناقشه**

په دې څېړنه کې چې د توصیفي-تحلیلي تګلارې څخه په ګټه اخیستنې سره کومې پایلې ترلاسه شوې دي، دا ځرګندوي چې دا پایلې د پیشـګاهي‌فرد او رحیمي له څېړنې سره چې د «جایگاه افغانســتان در جیو اســتراتیژي نظام نوین جهاني» تر عنوان لاندې ترسره شــوې وه، د افغانســتان د جیوپولیتیک او جیو ستراتیژیک د موقعیت د اهمیت او ارزښت په برخه کې همغږې لري، اما د افغانستان د حساس او ارزښت لرونکي جیوپولیتیکي او جیواکانومیکی موقعیت له مخې د شـمال-جنوب د ترانزېټ د طرحې په مســیر کې د واقع کېدلو او له دې امله له یو لړ ســتونزو او ننګونو سره د مخ کېدلو او همدارنګه د همدې طرحې په بنسټ دې هېواد ته د اقتصادي فرصتونو د چمتو کېدلو په برخه کې توپیر لري.

همدارنګه د حمیدي نیا او صــالحي دولت آباد له څېړنې سره چې د «انرژي عرصــه بازی بزرگ جدید در آسیای مرکزی: مطالعه موردی روسیه، آمریکا و چین» تر عنوان لاندې ترسره شوې وه، په افغانستان کې د نړۍ د لویو ځواکونو (چین، روسیې، اروپا او امریکا) د سیالۍ او رقابت په برخه کې چې دا سیالي او رقابت، مرکزي آسـیا (د انرژۍ بډایه سـیمې) ته د لاسرسي په پار د نوې سـترې لوبې تر عنوان لاندې رامنځ ته شـوې؛ همغږي لري، ولې دا چې د دې سـیالۍ او رقابت په لړ کې په ځانګړې توګه د شـمال-جنوب د ترانزیت د طرحې په رامنځ ته کېدلو سره افغانستان په سیاسي-امنیتي او اقتصادي ابعادو کې له کومو ســتونزو او ننګونو سره مخ شــوی دی او د دې طرحې په رامنځ ته کېدلو سره افغانســتان ته کوم اقتصادي، سیاسي-امنیتي فرصتونه په لاس ورځي؛ توپیر لري.

په همدې ترتیب د ودادي کلانتر، ســیف الدین او حاجي نژاد له څېړنې سره چې د «بررسي رفتار پاکســتان و هند در قبال دو خط لوله تاپی و صــلح با رویکرد نظریه ای بازی ها» تر سرلیک لاندې، د بابی لاشکی او عزتی له څېړنې سره چې د «تاپی (خط لوله گاز ترکمنستان، افغانستان، پاکستان و هند؛ زمینه‌های ایجاد و موانع پیش‌رو» تر سرلیک لاندې او د امیراحمدیان له څېړنې سره چې د «حمل و نقل و ترانزیت در آســیای مرکزي» تر سرلیک لاندې تر سره شــوې دي، افغانســتان ته د تاپي د ګازو د نل لیکې د اقتصــادي فرصــتونو او د دې طرحې د تعمیل په وړاندې د آســیا د جنوب د هېوادونو ترمنځ د کړکېچونو د ځرنګوالي او لاملونو له امله د خنډونو د رامنځ ته کېدلو په برخه کې همغږي لري، ولې داچې افغانســتان د شــمال-جنوب د طرحې په رامنځ ته کېدلو سره د ســیمې او نړۍ د لویو ځواکونو د ســیالۍ او رقابت په ډګر بدل شــوی او له دې امله افغانســتان ته د ســیاسي-امنیتي ابعادو له اړخه کوم ګواښونه او ننګونې وړپېښې شوې دي؛ له دې اړخه دا څېړنه له نوموړو څېړنو سره توپیر لري.

په دې بنسټ د دې څېړنې پایلې د فرضیو په تائید سره دا ځرګندوي چې د شمال-جنوب د ترانزېټ د طرحې په رامنځ ته کېدلو سره د ســیمې او نړۍ لوی ځواکونه هڅه کوي چې د مرکزي آســیا د انرژۍ

سرچينو ته د لاسرسي په پار د افغانستان له جيوپوليټيک، جيواکانوميک او جيوستراتيژيک موقعيت څخه په ګټې پورته کولو سره؛ نوموړو سرچينو ته لاسرسی و مومي او د سیالو لوبغاړو لاس‌رسي، واک، حضور او نفوذ پدې سيمه کې محدود او تر فشار لاندې راولي، چې د دې سياليو په لړ کې افغانستان له يوې خوا له سیاسي-امنيتي بې ثباتی سره مخ شوی دی او له بلې خوا همدې طرحې د هېواد د سیاسي-امنيتي ثبات او اقتصادي ودې په پار فرصتونه هم رامنځ ته کړي دي، چې په همدې توګه د څېړنې ټاکلې موخې او اهداف ترلاسه شوي دي.

**٦ـ پايله اخيستنه**

د څېړنې پايلې دا څرګندوي چې افغانستان د يو حساس، بې بديله، بې ساري او مهم جيوپوليټيک، جيوستراتيژيک او جيواکانوميک موقعيت درلودونکی دی، داسې موقعيت چې د آسيا د څلورو سيميزو سيستمونو «مرکزي آسيا، د آسيا جنوب، لوی منځنی ختيځ او د آسيا ختيځ» تر منځ يې يو پېچلی متقابل تړاو رامنځ ته کړی دی، افغانستان د هارټلنډ او ريملنډ په سيمو کې موقعيت لري او د انرژۍ د بيضې هارټلنډ (د انررژۍ بډايه سيمو) ته نيږدې پروت دی.

د مرکزي آسيا هېوادونه چې د طبيعي انرژۍ سترې زېرمې لري او د جيوپوليټيک موقعيت له مخې په وچه کې راګير او آزادو اوبو ته لاسرسی نلري، نو پدې بنسټ د افغانستان جيوپوليټيکي او جيواکانوميکي موقعيت او مسير ته چې د دې هېوادونو لپاره يو لنډ او آرزانه مسير دی، ډېره اړتيا لري، همدارنګه د آسيا د جنوب هېوادونه د خپل مخ پر ودې صنعت او توسعې لپاره انرژۍ ته اړتيا لري، دا هېوادونه هم د انرژۍ د تأمين لپاره د افغانستان جيوپوليټيکي او جيواکانوميکي موقعيت او مسير ته ډېره اړتيا لري او اړ دي چې د افغانستان له لارې د مرکزي آسيا انرژۍ ته لاسرسی ومومي.

د افغانستان او د مرکزي آ سيا ځانګړي جيوپوليټيکي او جيواکانوميکي موقعيتونه د دې لامل ګرځېدلي دي چې د سيمې او نړۍ ځواکونه لکه امريکا، اروپايي ټولنه، روسيه، چين، ايران، پاکستان او هند؛ د افغانستان له حساس، بې بديله او بې ساري جيوپوليټيکي او جيواکانوميکي موقعيت څخه په ګټې اخيستنې سره د مرکزي آسيا د انرژۍ بډايه سرچينو ته لاسرسی او نفوذ تر لاسه او پدې سيمه کې يو له بل سره کلکه سيالۍ او رقابتونه ترسره کوي چې دا سيمه د دې ځواکونو تر منځ د سيالۍ او رقابت په ډګر بدله شوېده، په دې بنسټ د شمال-جنوب د ترانزيټ د طرحې په رامنځ ته کېدلو سره؛ له يوې خوا د افغانستان د سياسي-امنيتی ثبات او اقتصاد په وړاندې يو شمېر ګواښونه او ننګونې را منځ ته شوې دي او دا هېواد؛ چې د مرکزي آسيا د فتحې د کلی په توګه پېژندل کيږي، د مرکزي آسيا د انرژۍ د طبيعي سرچينو سرشاره زېرمو ته د لاسرسي په پار د سيمې او نړۍ د ځواکونو د رقابت او سيالۍ ډګر ګرځېدلی

دی، کله چې له سړې جګړې څخه وروسته د لویو ځواکونو ترمنځ اقتصادي سیالۍ زور واخیست، افغانستان د انرژۍ بدایه زېرمو ته د نیږدې موقعیت له مخې د سپتمبر د یولسمې نېټې له پېښې سره سم د امریکا په سرمشریزه د ناټو تر یرغل لاندې واقع او اشغال شو. امریکا د افغانستان د جیوپولیټیک او جیوا کانومیک موقعیت څخه په ګټه پورته کولو سره هڅه کوله چې په لوی منځني ختیځ او مرکزي آسیا کې د چین، ایران او روسیې د پرمختګ او نفوذ مخنیوی وکړي او په مرکزي آسیا، د آسیا جنوب او د آسیا په ختیځ کې واک او نفوذ ترلاسه کړي او له خپلو ګټو سره سم اقتصادي دهلیزونو جوړ او د انرژۍ بدایه زیرمو ته د لاسرسي او نفوذ تر څنګ د روسیې انحصار، واک او نفوذ په دې سیمه کې ترفشار لاندې راولي، چې په پایله کې افغانستان له سیاسي-امنیتي بې ثباتۍ او ننګونو سره مخ شو چې د یاد اشغال ناوړه اغیز تر نن ورځې پورې دوام لري. پدې اساس د شمال-جنوب د ترانزیټ د طرحې؛ رامنځ ته کېدل، د افغانستان واقع کېدل د دې طرحې په مسیر کې او په مرکزي آسیا کې د انرژۍ سرچینو ته د لاسرسي او نفوذ په پار د سیمیزو او نړیوالو ځواکونو ترمنځ سیالۍ او رقابتونه هغه دلایل او لاملونه دي چې لدې امله له یوې خوا افغانستان ته د کورنیو او بهرنیو لاملونو له امله یولړ جدي، سیاسي-امنیتي او اقتصادي ستونزې را ولاړې شوې دي او له بلې خوا د افغانستان دې حساس او بې بدیله جیوپولیټیکي او جیواکونومیکي موقعیت او په ځانګړې توګه د شمال-جنوب د ترانزیټ د طرحې، د هېواد د سیاسي-امنیتي ثبات او اقتصادي ودې لپاره یو مزیت او فرصت هم رامنځ ته کړی دی، د مرکزي آسیا د هېوادونو لپاره؛ آزادو اوبو او د انرژۍ د پلور بازارونو ته یوازینۍ، آسانه، آرزانه او لنډه لاره ده، د آسیا د جنوب د هېوادونو لپاره د مرکزي آسیا انرژۍ ته د لاسرسي یوازینۍ او بې بدیله ترانزیټي مسیر دی، دې مسئلې د افغانستان او د دې سیمیزو سیستمونو ترمنځ یو پېچلې متقابل تړاو رامنځ ته کړی دی، چې واکمن نظام د یو متوازن او اقتصاد محوره سیاست په تعمیل، د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره په مثبت تعامل سره کولای شي چې د هېواد او د دې سیمیزو سیستمونو ترمنځ همګرایي او همغږي رامنځ ته کړي، ګواښونه او ستونزې په فرصتونو بدلې، په هېواد کې بشپړ پایښت لرونکی امنیت او ثبات تأمین او هېواد د اقتصادي ودې، پرمختګ او پراختیا په لور سوق کړي.

### ۶-۱ وړاندیزونه:

۱- د افغانستان اسلامي امارت باید هڅه وکړي چې د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره د متوازن او اقتصاد محوره بهرني سیاست پر مټ، مثبت تعاملات پیاوړي کړي.

۲- د هېواد په کچه ترانزیټي لارې باید په معیاري توګه ورغول شي

۳- افغانستان باید له بېلابېلو لارو څخه د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره وصل شي ترڅو د هېواد د بې ساري موقعیت له مزیت څخه په غوره توګه ګټه پورته کړل شي.

۴- داچې افغانستان د سیمې د څلورلارې حیثیت لري او ترانزیټ د هېواد د اقتصاد یوه مهمه برخه جوړوي، نو پدې برخه کې باید لا ډېرې څېړنې ترسره شي.

## ۷ـ سرچيني

ابوالحسن شیرازی، ح (۱۳۸۲). روند جهانی شدن در آسیای مرکزی و بازتاب آن بر منافع ملی ایران، فصلنامه مطالعات خاورمیانه، ۱۰ (۴). ۲۳-۵۰. https://cmess.sinaweb.net/article_151806.html

احمدي، ح (۱۳۸۷) تحولات منطقه اي افغانستان (به مناسبت همايش بين المللي ميـراث مشترك مكتوب ايران و افغانستان)، تهران: نشر مؤسسه مطالعات تاريخ معاصر ايران. www.google.com/search?q

اطاعت، ج (۱۳۷٦). ژئو پلیتیک و سیاست خارجی ایران، تهران: نشر سفیر.

امیراحمدیان، ب (۱۳۸۷). حمل ونقل و ترانزیت در آسـیای مرکزی،فصـلنامه مطالعات اوراسـیای مرکزی، ۱ (۱)، ۲۹-۴۸. https://journals.ut.ac.ir/article_27437.html

امیراحمدیان، ب (۱۳۹۴). کریدور شـمال-جنوب و اهمیت آن در همگرایی منطقهای، فصـلنامه مطالعات آسیای مرکزی و قفقاز، ۱ (٦۱)، ۷-۲۲. https://elmnet.ir/article/2055817-20354/

آشوری، د (۱۳۷۳). دانشنامهی سیاسی، تهران: نشر مروارید.

بایی لاشـکی، م و عزتی، ع (۱۳۹۳). تاپی «خط لوله گاز ترکمنسـتان، افغانسـتان، پاکسـتان و هند؛ زمینـههـای ایـجاد و مـوانـع پـیش رو، فصـلـنـامـه جـغـرافـیـای سرزمـیـنـی، ۱۱ (۴۲)، ۱-۱٦. https://www.noormags.ir/view/fa/articlepage/1089783/

پیشگاهیفرد، ز و رحیمی، س (۱۳۸۷). جایگاه افغانستان در ژئو استراتیژی نظام نوین جهانی، فصلنامه علوم جغرافیایی، ۸ (۱۱)، ۱۰۰-۱۳۱. https://www.sid.ir/paper/102405/fa

ترابی، ق و صانعی، ر (۱۳۹٦). موانع تحقق خط لوله تاپی بر اساس نظریه همگرایی، فصلنامه تخصصی علوم سیاسی، ۱۳ (۴۱)، ۲۵-۴۰. https://civilica.com/doc/1279746/

تمنا، ف (۱۳۸۷) سیاست خارجي آمریکا در افغانستان، تهران، نشر پژوهشکده مطالعات استراتیژیک.

جوادي ارجمند، م، کریمی قهروری، م او اخباری، م (۱۳۹۴). سـیر تحول سـیاسـت خارجی آمریکا نسبت به افغانستان بر اساس نظریات جیوپلیتیک، فصلنامه تخصصی علوم سیاسی، ۱۱ (۳۲)، ۳۳-۵۲. https://www.sid.ir/fileserver/jf/469-275427-fa-1117023.pdf

حافظ نیا، م (۱۳۸۱). جغرافیای سیاسی ایران، تهران: نشر سمت.

حافظ نیا، م، شـمس دولتآبادی، م و افشرـدی، م.ح (۱۳۸٦). علائق ژئوپليتيكي ايران در آسـیای مـرکـزی و فـرصـتهـای پـیـش رو، فـصـلـنـامـهی ژئـوپـلـیـتـیـک، ۳ (۳)، ۷۹-۴٦. https://journal.iag.ir/article_57113.html

حسـین پور پویان، رضـا (۱۳۹۲). تبیین مؤلفه های جغرافیایي و ژئو پلیتیکی روابط در مناطق ژئو پلیتیکی، فصلنامه جیو پلیتیک، ۹ (۲)، ۱٦۱-۲۰۳. https://www.sid.ir/paper/465724/fa

حسینی، م (۱۳۹۷). بررسی ژئو پلیتیک و تحولات اخیر افغانستان «با اثرگذاری بر امنیت جمهوری اسلامی ایران»، فصلنامه تحقیقات جغرافیایي، ۱۳ (۴)، ۳۵-۷۶. https://www.sqts.ir/article_154814_73c655596c8f0ba9f92497c1e44d09ca.pdf

حکمت نیا، ح (۱۳۸۳). افغانستان هارتلند آسیا، فصلنامه پیک نور، ۲ (۱)، ۷۴-۸۳.

حمیدی نیا، ح و صالحی دولت آبادی، ر (۱۳۹۴). انرژی «عرصه بازی جدید» در آسیای مرکزی (مطالعه موردی روسیه، آمریکا و چین، فصلنامه آسیای مرکزی و قفقاز، ۳ (۹۰)، ۶۷-۹۶. https://sid.ir/paper/94492/fa

خليلي، م، حيدري، ج و صیادی، هـ (۱۳۹۲) پیوند کد و ژنوم جیوپلتیک در سیاست خارجي (مطالعه موردي: افغانستان و ایران)، د نړیوالو اړیکو د څېړنې فصلنامه، ۱ (۹)، ۷۲-۳۷. https://www.iisajournals.ir/article_41933.html

دره، م (۱۳۷۷). ژئو پليتيك؛ ارائه تعريفي جديد، فصلنامه تحقیقات جغرافیایي، ۱۳ (۴)، ۷۶-۹۸. https://www.iisajournals.ir/article_41933.html

رحمانی، م و میری، ا (۱۳۹۴) تأثیر مؤلفه های موازنه نرم چین و روسیه بر هژمونی ایالات متحده آمریکا، فصلنامه آسیای مرکزی و قفقاز، ۱ (۹۲)، ۶۵-۹۵. https://ca.ipisjournals.ir/article_22199.html

رفیع، ح (۱۳۸۷). دانشواژه جیو پلیتیک و جیو استراتیژی در دنیای اطلاعات (با تأکید بر مورد ایران)، فصلنامه سیاست، ۳۸ (۳)، ۹۵-۱۱۶. https://www.sid.ir/paper/110042/fa

سجادپور، س و جهانبخش، م(۱۳۹۳). تاثیر عنصر مخدر افغان بر امنیت ملی فدراسیون روسیه، فصلنامه مطالعات آسیای مرکزی وقفقاز، ۲۰ (۸۸)، ۵۹-۸۵. https://ca.ipisjournals.ir/article_17892.html

شاران، ت (۱۳۹۰). نگاهی به پس منظر توسعه اقتصادی در کشورهای توسعه‌یافته، فصلنامه مطالعات استراتژیک، ۱ (۲۵-۲۶)، ۱۳۲- ۱۶۳.

شفیعی، ن (۱۳۸۸). بازتولید قدرت در افغانستان: تبیین قدرت یابی طالبان، مطالعات اوراسیای مرکزی، ۲ (۴). ۹۹-۷۸. https://sid.ir/paper/151207/fa

شیخ عطار، ع (۱۳۷۱). ریشه های رفتار سیاسي در آسیای مرکزی و قفقاز، مرکز مطالعات آسیای مرکزی و قفقاز، تهران: نشر وزارت امور خارجه. https://www.noormags.ir/view/fa/articlepage/859988/

صفوی، س و شیخياني، ع (۱۳۸۹). اهداف کوتاه‌مدت و بلندمدت ایالات متحده امریکا در تهاجم نظامي به افغانستان، فصلنامه جغرافياي انساني، ۲ (۳) ، ۲۴-۱. https://www.ensani.ir/fa/article/231052/

طلوعی، م (۱۳۷۲)، فرهنگ جامع سیاسی، ترجمه: بی جا، نشر سخن.

عزتي، ع (۱۳۸۲). ژئو پولتیک در قرن بیست و یکم، تهران: نشر سمت.

عزتی، ع (۱۳۸۰). ژئو پولتیک در قرن بیست و یکم، تهران: نشر سمت.

علی آبادی، ع (۱۳۷۳). افغانستان، تهران: نشر مؤسسه چاپ و انتشارات وزارت امور خارجه.

علیرضایی، م (۱۳۹۰). افغانستان و اهمیت انرژی، فصلنامه مطالعات استراتژیک، ۱ (۲۵- ۲۶)، ۱۱۲-۱۳۸. https://faolex.fao.org/docs/pdf/AFG184368.pdf

فرجی راد، ع (۱۴۰۰). عوامل ژئو پلیتیکی بحران زا در افغانستان و آینده پژوهشی این بهرانها، فصلنامه گروه جیو پلیتیک و دیپلماسی، ۲ (۱)، ۱-۱۰. https://iag.ir/wp-content/uploads/2021/08/

فرجی راد، ع، درخور، م و ســاداتی، س (۱۳۹۰). ژئو پلیتیک جدید افغانســتان پس از حمله یازدهم سپتامبر، فصلنامه علمی-پژوهشی جغرافیای انسانی، ۳ (۲)، ۱۹۳-۲۰۵. https://sid.ir/paper/470326/fa

فیاضــی، م (۱۳۸٦). رقابت پیرامون انرژي آسیای مرکزی و قفقاز، فصــلنامه مطالعات آســیای مرکزی و قفقاز، ۱ (٦۰)، ۱۵۴-۱۷۷. https://www.sid.ir/paper/174035/fa

قاسمي، ف (۱۳۹۰) نظریه هاي روابط بین الملل و مطالعات منطقه اي، تهران، نشر میزان.

قاسمی، ع (۱۳۹۳). راهبردهای گسترش روابط اقتصادی ایران و افغانستان، پایان نامه کارشناسی ارشد، دانشکده مدیریت و اقتصاد، دانشگاه تهران.

قوام، س (۱۳۹۰). روابط بین الملل؛ نظریه ها و رویکردها، تهران: نشر سمت.

کریمی پور، ی (۱۳۷۹). مقدمه ای بر ایران و همســایگان، تهران: نشرـ جهاد دانشــگاهی، نشرـ تربیت معلم.

کولایی، ا و مرادی، آ (۱۳۹۰). سیاست انرژی روسیه در آسیای مرکزی، فصلنامه راهبرد، ۲۰ (٦۱)، ۵٦-۳۱. https://www.sid.ir/paper/89128/fa

مجتهد زاده، پ (۱۳۷٦). جغرافیا و ســیاســت در دنیاي واقعیت‌ها نگاهي کوتاه به پاره‌ای از مفاهیم جغرافیاي سیاسي و ژئو پلیتیك، ماهنامه اطلاعات سیاسي – اقتصادي، ۱ (۱۱۹-۱۲۰)، ۳۴-۴۵.

ملکوتیان، م (۱۳۸۳) جغرافیا و سیاست، قم: نشر حق یاوران.

واعظی، م و اسماعیل، ب (۱۳۸۸) «جایگاه افغانستان در سیاست خارجي آمریکا (با اســتفاده از نظریه ثبات هژمونيك)»، فصــلنامه مطالعات راهبردي جهان اســلام، ویژه افغانســتان، ۱ (۱)، ۱-۱٦. https://journal.iag.ir/article_57036_59fa227af2f15ab2c13cdd9537d536fe.pdf

وحیدی راد، م (۱۳۹۲). نظریه وابستگی متقابل و کاربست آن در تاریخ معاصر ایران، فصلنامه خردنامه، ۱ (۱۰)، ۱۱۴-۹۹. https://www.noormags.ir/view/fa/articlepage/922182/

ودادی کلانتر، س، ســیف الدین، ا و حاجی نژاد، ا (۱۳۹۷) «بررســی رفتار پاکســتان و هند در قبال دو خط لوله تاپی و صــلح با رویکرد نظریه «بازی‌ها» و ارائه پیشــنهادهای راهبردی برای ایران»، فصــلنامه راهبرد اقتصادی، ۷ (۲۷)، ٦۵-۹۴. https://econrahbord.csr.ir/article_103346.html

وریج کاظمی، م (۱۴۰۰). امکان ســنجی بحران ژئو اکونومیک در افغانســتان و تأثیر آن بر فضــای پــیرامــون، فصـــلـنـامـه جـغـرافـیـا و روابـط انســـانـی، ۴ (۲)، ۳۹۹-۴۱۴. https://www.noormags.ir/view/en/articlepage/1836654/

ویســی، هادی (۱۴۰۰). بررســی رقابت های ژئو پلیتیکی و ژئو اکونومیک چین و هند در اوراســیا؛ کریډورهای ارتباطی و جیو پلیتیک چابهار و گوادر، فصلنامه پژوهش های جغرافیای انسانی، ۵۳ (۱)، ۲۱۳-۲۲٦. https://journal.ut.ac.ir/article_74503.html

یوسف زهي، ن، فرزانه پور، ح و بخشی، ا (۱۳۹۷). آسیب شناسی روابط بازرگانی ایران و افغانستان از منظر رهیاف اقتصاد سیاسی «۲۰۰۱-۲۰۱۸»، پژوهشنامه علوم سیاسی، ۱۳ (۲)، ۱۸۷-۲۲۴.
http://www.ipsajournal.ir/article_349.html

Hagget, P (1972). Geography: A Modern Synthesis, New York, Evanston, Son Francisco and London: Harper and Row Publishers.

Karimipoor, Y (2001). Introduction to Iran and its neighbors (sources of Struggle and threat), Tehran: acecr Publications of Training Teacher University. Available at: https://www.sid.ir/en/VEWSSID/J_pdf/51011120181105.pdf

Remizov, O (2013), "The Concept of Energy Security in the Eu-Russia Relations: New Interdependencies", Institute of Government and Politics, Available at: https://dspace.ut.ee/server/api/core/bitstreams/8867a79f-08db-4425-94c0-a890b8df2b16/content

قادری، ع (۱۳۹۴). افغانستان و ژئو پلیتیک انرژی منطقه:
http://dailyafghanistan.com/opinion_detail.php?post_id=13400

2. Shoaib, A (2015). How can Afghanistan retake its position as a transit and transport hub between Central Asia and South Asia, The Silk Road through Afghanistan, 6th Regional Economic Cooperation Conference on Afghanistan, Kabul, 3-4 September 2015. Available at: https://www.researchgate.net/publication/283443417_How_can_Afghanistan_Retake_Its_Position_as_a_Transit_and_Transport_Hub_between_Central_Asia_and_South_Asia